لومړی کال - ۲ ګڼه - ۱۴۴۳ - ذوالحجه

د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت



## ګرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنګي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توګه په لاس کې واخلي.

د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توګه د افغانستان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

**الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند**

# د اقتصادي معاونیت میاشتنۍ

## ۲ ګڼه

- له ډبرو سکرو څخه د برېښنا تولید اهمیت او اړتیا
- ټاپي پروژه؛ عملي چارو پیل، ګټې او پر وړاندې یې شته خنډونه
- اهمیت اقتصادی قرارداد سه میدان هوایی افغانستان با کمپنی گاک

@FDPM_AFG
www.fdpm.gov.af
@FDPM_AFG

د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست

د مطبوعاتو آمریت

# د اقتصادي معاونیت

# میاشتنۍ

۲

ګڼه

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** احمد یاسر، مولوي سید علي، حاجي محمد ابراهیم حکمت،

مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله او احمدشاه راشد

**مسؤول مدیر:** احمد یاسر

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**لیکوالان:** سیف الدین احمدي، امان الله حنیفي، احسان الله ذهین،

عزت الله بدلون او خالد حکیمي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالېست:** محمد عشرت رحمتي

**پته:** مرمرینه ماڼۍ، کابل - افغانستان

**ټېلیفون:** ۰۲۰۲۱۰۷۵۰۰

**برېښنالیک:** media@fdpm.gov.af

**وېبپاڼه:** fdpm.gov.af

- د مضمونونو او مقالو مسؤولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- مسؤولیت مضامین و مقالات به نویسندگان آن بر می‌گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سرلیکنه ۱

اقتصادي کمېسیون؛ له MCC چینایي کمپنۍ سره باید د مس عینک کان د قرارداد تخنیکي اړخونه و ارزول شي ۲

کانونو او پترولیم وزارت؛ له ډېرو سکرو څخه د برېښنا د تولید لپاره لږ تر لږه د «۳۰ - ۶۰» کلونو لپاره خام مواد ورکولی شو ۳

اقتصادي کمېسیون؛ یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارله چې د بخش آباد بند پاتې کارونه له نږدې وګوري ٤

اقتصادي کمېسیون؛ د افغانستان برېښنا شرکت باید «د چک برېښنا بند» د پاتې کارونو د لګښت په اړه دقیقه سروې ترسره کړي ۵

اقتصادي کمېسیون؛ خصوصي سکتور باید د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونې ته لومړیتوب ورکړي ٦

اقتصادي کمېسیون؛ یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارله، څو د قراردادي شرکتونو د حوالو او تضمیناتو لپاره یو مناسب حل پیدا کړي ٦

اقتصادي کمېسیون؛ د ځمکني معیاري ترانسپورټ د رامنځته کولو لپاره پر جوړه شوې طرحه مفصلې خبرې وکړې ۷

اقتصادي کمېسیون؛ تر هراړخیزې ارزونې وروسته د ځنګلونو د وهلو او قاچاق د مخنیوي لپاره جوړه شوې طرحه تائید کړه ۹

اقتصادي کمېسیون؛ د سرو زرو د موقت صدور لپاره جوړ شوی طرزالعمل تائید او د تطبیق وړ وباله ۱۰

اقتصادي کمېسیون؛ له DP World کمپنۍ سره د افغانستان د بندرونو د عصري کولو په موخه د تفاهم پرېکړه وکړه ۱۱

متحده عربي اماراتو ته د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال سفر او لاسته راوړنې ۱۳

له ډېرو سکرو څخه د برېښنا د تولید اهمیت او اړتیا ۱۵

اهمیت اقتصادی قرارداد سه میدان هوایی افغانستان با کمپنی «گاک» ۲۲

اقتصادي کمېسیون؛ د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې لاسته‌راوړنې او وړاندیزونه ۲۵

د قوش‌تیپې کانال اقتصادي اهمیت او وروستي کاري پرمختګونه ۲۸

د پیروزي ښارګوټي صنعتي پارک؛ د هېواد په بیارغونه کې یو بل ګام پورته شو ۳۳

ټاپي پروژه؛ عملي چارو پیل، ګټې او پر وړاندې یې شته خنډونه ۳۷

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اهل تشیع له علماوو او مشرانو سره ولیدل ٤٤

پیام‌های کوتاه معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء ٤۵

د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال لنډ پیغامونه ٤٦

# سرلیکنه

د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت میاشتنۍ مجلې د خپرېدو اصلي موخه ددغه معاونیت د غونډو، پرېکړو، ډیپلوماتیکو لیدنو کتنو، اقتصادي کمېسیون، پښنو ته د رسېدو کمېسیون، اقتصادي تحلیلونو او سترو اقتصادي پروژو د پیل په اړه د معلومات خپرېدل دي.

د اقتصادي چارو کمېسیون د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ مقام د ۲۱ مې او۲۲ مې ګڼې فرمانونو پر بنسټ د ۱۴۰۰ هـ.ق کال د مرغومي په۲۹ مه نېټه رامنځته شو. د دغه کمېسیون له جوړېدو څخه د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ موخه د هېواد د اقتصادي چارو سم مدیریت، له خصوصي سکټور سره د ستونزو د حل په برخه کې همکاري، ترڅو کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته د جلب او جذب زمینه برابره شي، په تدارکاتي پروسو کې د اسانتیاوو رامنځته کول او د دغه کمېسیون تر چتر لاندې د وزارتونو او ادارو د چارو او کړنو تنظیم یې له اساسي موخو ګڼل کېږي.

د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او بښېرازۍ کې رول لري؛ ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغورل شي. په همدې توګه اقتصاد محوره سیاست د افغانستان اسلامي امارت د پالیسۍ په سر کې راځي او د اقتصادي چارو کمېسیون رامنځته کېدل، چې مشري یې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند پر غاړه ده، پر دې دلالت کوي، چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ د ا.ا.ا له لومړیتوبونو څخه دی.

افغانستان د پانګونې او تولید ډېر فرصتونه لري. د پرېمانه طبیعي سرچینو (کانونو، نفتي زېرمو، اوبو او پرېمانه شاړو ځمکو) شتون، انرژي، زراعت او د صنعت سکټورونه یې د مثال په توګه یادولی شو. همدغو فرصتونو ته په کتو سره د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه داخلي سرچینو متکي کړي.

د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت میاشتنۍ مجله د همدې موخې لپاره جوړه شوې څو وکړی شو، ددغه معاونیت فعالیتونه او اقدامات تر ملت پورې په درست شکل ورسوو. په میاشتنۍ مجله کې به د اقتصادي چارو کمېسیون، ډیپلوماتیکو ناستو او د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال له لوري د تر سره شوو پرېکړو، تصمیمونو او پرمختګونو په اړه راپورونه، د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي په پار اقتصادي تحلیلي لیکنې او په ټوله کې به د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت اړوندو کاري پرمختګونو راپورونه په کې خپرېږي.



## اقتصادي کمېسیون؛

# له MCC چینایي کمپنۍ سره باید د مس عینک کان د قرارداد تخنیکي اړخونه و ارزول شي

د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د کانونو او پترولیم وزارت په مشرۍ؛ مالیې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، بهرنیو چارو وزارت او د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د استازي په ګډون یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارله چې د مس عینک کان د استخراج په اړه له MCC چینایي کمپنۍ سره د شوي قرارداد تخنیکي اړخونه په پوره جزئیاتو سره تحلیل او دغه کمېسیون ته دې خپل راپور وړاندې کړي.

د اقتصادي کمېسیون په دغه نوبتي غونډه کې تر مفصلو بحثونو وروسته د افغانستان برښنا شرکت ته اجازه ورکړل شوه، څو له قراردادي شرکتونو سره د برښنا شرکت د غیر اختیاري پروژو شوي قراردادونه فسخه، تجهیزات دې ترې تسلیم او پوره حفاظت یې دې وکړل شي.

دغه کمېسیون همدارنګه د «ابونصر فراهي» سوداګریز بندر د نړیوال کېدو لپاره کرنې وزارت، د مالیې وزارت د ګمرکاتو ریاست، صنعت او سوداګرۍ وزارت او د سټنډرډ ملي اداري ګډې کمېټې ته دنده وسپارله، چې د یادې موضوع په اړه تخنیکي بحثونه او څېړنې ترسره او راپور یې دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

ابو نصر فراهي د افغانستان یو له هغو بندرونو دی چې ډېره سوداګري پرې کېږي او په زرګونو خلک پکې پر کار مصروف دي. له څه وخت راهیسې د اسلامي امارت له لوري په دغه بندر د بې کیفیته خوراکي او غیر خوراکي توکو ترانشیپ هم بند شوی دی.



**کانونو او پټرولیم وزارت:**

# له ډېرو سکرو څخه د برښنا د تولید لپاره لږ تر لږه د «۳۰ تر ۶۰» کلونو لپاره خام مواد ورکولی شو

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ یو ځانګړي کمېسیون له ډېرو سکرو څخه د برښنا د تولید لپاره د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ، د کان د استخراج او پروسس د ارزونې په موخه د کانونو او پټرولیم وزارت، د برښنا د جذب او وېش په موخه چې په کومو سیمو او ولایتونو کې څومره برښنا ته اړتیا ده او برښنا شرکت په خپلو مشتریانو څومره برښنا وېشلی شي، د اوبو او انرژۍ وزارت ته او د پانګونې د جلب او جذب په موخه چې په دغه برخه کې پانګوال پانګونې ته وهڅول شي د صنعت او معدن خونې مسؤلینو ته دنده وسپارله څو د موضوع د ذکر شوو ابعادو په اړه په پوره جزئیاتو سره تخنیکي او مسلکي بحثونه او څېړنې ترسره او د همدې کمېسیون راتلونکي مجلس ته د ارزونې په موخه خپل راپور وړاندې کړي.

له ډېرو سکرو څخه د برښنا د تولید لپاره دغه هڅه په داسې وخت کې ترسره کېږي، چې افغانستان ۸۰ سلنه برښنا له بهره واردوي او یوازې ۲۰ سلنه برښنا په کور دننه تولیدولی شي. «د افغانستان برښنا شرکت» مسؤلین وایي، په دغه کار سره به بهرنیو هیوادونو ته د کال د سلګونو میلیونو ډالرو د تلو مخه ونیول شي او هممهاله به ورسره په کور دننه صنعت وده وکړي.

**د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت وایي، له ډېرو سکرو څخه د «۱۷۰۰» میګاواټه برښنا د تولید لپاره دغه وزارت لږ تر لږه د «۳۰» کلونو او حداکثر د «۶۰» کلونو لپاره خام مواد ورکولی شي.**

د افغانستان د صنعت او معدن خونې رئیس شیرباز کمین‌زاده وایي، په دغه برخه کې د پانګونې لپاره دوی له ټولو کورنیو او بهرنیو افغان پانګوالو سره خبرې کړې دي، چې له نېکه‌مرغه ډېری یې چمتو دي چې په دغه برخه کې پانګونه وکړي

اقتصادي کمېسیون؛

# یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارله چې د بخش آباد بند پاتې کارونه له نږدې وګوري

د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ۲۲مه غونډه کې پر بېلابېلو موضوعاتو مفصل بحثونه وشول. د مالیې وزارت، اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان بانک او د فراه ولس استازو یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د فراه د بخش آباد برښنا بند له نږدې وګوري او د پاتې کارونو په اړه یې راپور د دغه کمېسیون راتلونکې مجلس ته وړاندې کړي.

د یاد بند د دغه تونلونو قرارداد په ۱۳۹۸ لمریز کال له ترکي شرکت سره شوی، چې یوڅه کارونه یې ترسره شوي، خو نور د پیسو د نه جمع کېدو له کبله په ټپه ولاړ دي. د دغو تونلونو قرارداد په ۱۱،۸ میلیون ډالره شوی و، چې له جملې یې ۲،۹ میلیونه ډالر دغه شرکت ته جمع شوي دي.

همدارنګه د اقتصادي کمېسیون په یاده غونډه کې مالیې وزارت، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او د افغانستان بانک مسلکي استازو ته هدایت وشو، چې له کانونو او پټرولیم وزارت سره "د کانونو د استخراج قانون" باندې په ګډه له سره غور وکړي.

د دغه قانون پر اساس به له هغو شرکتونو سره تړون کېږي، چې پر مالي وړتیا سربېره د استخراج ظرفیت هم ولري.

پر دغه قانون له سره غور په داسې حال کې کېږي چې په دې وروستیو کې ځینو شرکتونو پر کانونو او پټرولیم وزارت نیوکې کړې دي. دوی وایي، دغه وزارت د داوطلبۍ پروسه په ښه ډول نه ده ترسره کړې.



اقتصادي کمېسیون؛

# د افغانستان برښنا شرکت باید «د چک برښنا بند» د پاتې کارونو د لګښت په اړه دقیقه سروې ترسره کړي

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون له مالیې وزارت، ښارجوړونې وزارت، اقتصاد وزارت، کرنې وزارت او کابل ښاروالۍ څخه یوې ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارله، څو د ښارجوړونې وزارت له تشکیل څخه د کرنې وزارت تشکیل ته د اراضي ریاست د انتقال پروسه بشپړه کړي.

د یادولو وړ ده چې د اراضي ریاست د امیرالمؤمنین شیخ هِبةالله اخوندزاده د ځانګړي حکم پر اساس له ښارجوړونې وزارت بېل او د کرنې وزارت تشکیل ته ور زیات کړل شوی دی.

دغه کمېسیون همدارنګه د افغانستان برښنا شرکت ته دنده وسپارله، چې د میدان وردګو ولایت د چک برښنا بند د پاتې کارونو د لګښت په اړه دقیقه سروې ترسره او راپور یې د یاد کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. د دغه بند پر جوړولو او د توربینونو پر نصبولو یې شاوخوا «۵۰۰» میلیونه افغانۍ لګښت شوی؛ خو د وخت په اداره کې د مالي فساد او مافیایي کړیو د شتون له کبله یې کارونه بشپړ نه شول.

د چک برښنا بند درې توربینه لري چې په بیا فعالېدو سره به د «۳,۹» میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت ولري.

اقتصادي کمېسیون همدارنګه خپله هغه پرېکړه د تطبیق وړ وبلله، چې له مخې به یې د رنګه فلزاتو ویلې کوونکې فابریکې «رنګه کباړ فلزات» له سوداګرو د بازار ورځنۍ قېمت ته په کتو له هغوی اخلي او په هېڅ وجه به دغه خام مواد بهر ته نه انتقالېږي.

د رنګه فلزاتو سوداګرو د اقتصادي کمېسیون له دغې پرېکړې مخکې دغه فلزات بهر ته قاچاق کول. د افغانستان د صنعت او معدن خونې مسؤلین وایي، له نیکه‌مرغه اوس په افغانستان کې د دغو فلزاتو ویلې کوونکې فابریکې فعالیت کوي او په ښه ډول او ټیټ قېمت له دغو فلزاتو جوړېدونکي وسایل بازار ته وړاندې کولی شي.

اقتصادي کمېسیون د اقتصاد وزارت په مشرۍ؛ مالیې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت او کابل ښاروالۍ یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارله، چې په صنعتي پارکونو کې د صنعتکارانو د ځمکو د ستونزو د حل په اړه هم عملي اقدام وکړي.

ډېری صنعتکاران شکایت کوي چې دوی په صنعتي پارکونو کې ځمکې اخیستې دي، پیسې یې تسلیم کړې؛ خو د ځینو ستونزو له امله ورته د فعالیت اجازه نه ورکول کېږي.



**د چک برښنا بند درې توربینه لري چې په بیا فعالېدو سره به د «۳,۹» میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت ولري.**

اقتصادي کمېسیون؛

# خصوصي سکتور باید د برښنا د تولید په برخه کې پانګونې ته لومړیتوب ورکړي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون پر ټولو هغو مواردو تر مفصلو بحثونو وروسته، چې خصوصي سکتور پکې پانګونې ته چمتو دی؛ د برښنا تولید ته لومړیتوب ورکړ.

دغه کمېسیون د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ؛ د کانونو او پترولیم وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، د صنعت او معدن او همدارنګه د سوداګرۍ او پانګونې خونو ته دنده ورکړه، چې له ډېرو سکرو څخه د برښنا د تولید په برخه کې صنعتي پارکونو، لویو ښارونو او دې ته ورته ساحو کې د ډېرو سکرو حجم او د برښنا اړتیا ته په کتو په ګډه لومړیتوبونه معلوم او وروسته په دغه برخه کې عملاً کار پیل کړي.

**اقتصادي کمېسیون دغه ګام په داسې وخت کې اخلي، چې افغانستان نږدې ۸۰ سلنه برښنا له بهرنیو هیوادونو واردوي او هر کال په سلګونو میلیون ډالره لګښت ورکوي.**

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي وایي، خصوصي سکتور له صنعت او سوداګرۍ وزارت سره په همغږۍ د صنایعو، معدن، طبي او خوراکي خدماتو، برښنا او کرنې په برخو کې پانګونې ته چمتو دی. د عزیزي په خبره، په افغانستان کې دننه د برښنا په تولید سره به له یوې خوا بهرنیو هیوادونو ته د کال د میلیونونو ډالرو د تلو مخه ونیول شي او له بلې خوا به په کور دننه صنعت وده وکړي، تولید به زیات او ډېرو خلکو ته به د کار زمینه برابره شي.

اقتصادي کمېسیون؛

## یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارله، څو د قراردادي شرکتونو د حوالو او تضمیناتو لپاره یو مناسب حل پیدا کړي

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د مالیې وزارت په مشرۍ؛ د ټولګټو وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، د افغانستان بانک، د اقتصادي کمېسیون او د قراردادي شرکتونو د استازو په ګډون یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارله، چې د قراردادي شرکتونو د حوالو، تضمیناتو او پر پخوانۍ ادارې د دوی د پاتې طلباتو ستونزې ته یو مناسب حل پیدا کړي.

د دغو شرکتونو استازي وایي، له پخوانۍ ادارې څخه دوی ډېرې پروژې په قرارداد اخیستې چې د ځینو کارونه یې بشپړ شوي، خو تر اوسه له دوی نه دي تسلیم شوي. دوی زیاتوي، د افغانستان اسلامي امارت باید له دوی یادې پروژې تسلیم او د دغو پروژو په مقابل کې دې ورته د تضميناتو پیسې بېرته ورکړل شي. د دغو شرکتونو استازي زیاتوي چې دوی له نورو قراردادیانو قرضدار دي او حکومت باید د دوی ستونزو ته په کتو یوه مناسب حللاره ورته ولټوي.

اقتصادي کمېسیون همدارنګه د ښارجوړونې وزارت هغه وړاندیز د تایید او تطبیق وړ وباله، چې له مخې یې د بیجینګ-ننګرهار ساختماني او تولیدي شرکت له لوري د پیروزي پروژې اړوند صنعتي پارک کې «۱۵۰» کوچنۍ او متوسطې فابریکې جوړېږي.

د اقتصادي کمېسیون په دغه ناسته کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د «۸۸۰» تېلو اړوند «۲۷۰۰» ټنه تېل چې د افغانستان خاورې ته راوړل شوي دي؛ قراردادي شرکتونه باید د فی ټن تېلو پر سر «۲۵» ډالره چې له دې مخکې یې د نفتو او ګازو دولتي شرکت ته ورکول، تر دې پرېکړې وروسته د سټنډرډ ملي ادارې ته ورکړي.

د یادولو وړ ده چې دغه شرکتونه به د سټنډرډ ملي ادارې ته د یو ټن تېلو پر سر «۱۰» ډالره د دې ادارې د لابراتواري وسایلو د ترمیم په موخه هم ورکوي.

# د ځمکني معیاري ترانسپورټ د رامنځته کولو لپاره پر جوړه شوې طرحه مفصلې خبرې وکړې

د اقتصادي کمېسیون په ۲۳مه نوبتي غونډه کې د ترانسپورټي ستونزو د حل په موخه؛ د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټي چارو د تنظیم کمېسیون له لوري پر جوړه شوې طرحه او وړاندیزونو مفصل بحث او خبرې وشوې.

افغانستان چې له جغرافیوي پلوه په وچه کې پروت هیواد او د اوبو ترانزیټي لارو ته مستقیم لاسرسی نه لري، نو د مالونو او مسافرو د لېږد رالېږد پر مهال ډېری وخت له ځمکني ترانسپورټ څخه کار اخلي.

د افغانستان ستراتیژیک موقعیت کولای شي دغه هیواد د سیمې د ترانزیټ پر مرکز بدل کړي، نو له دې کبله ضرور ده چې د هیواد ځمکنی ترانسپورټ د توکو او مسافرینو د لېږد رالېږد لپاره یو له خورا مهمو او اصلي انتخابونو څخه وشمېرل شي. د ځمکني ترانسپورټ سکتور د افغانستان په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې ځانګړی اهمیت لري، چې باید د هغه زیربناوو ته جدي پاملرنه وشي.

اقتصادي کمېسیون په افغانستان کې د معیاري ځمکني ترانسپورټي سیستم د رامنځته کولو او ترانسپورټي ستونزو د حل لپاره په لسو مادو کې د ترانسپورټي چارو د تنظیم کمېسیون له لوري وړاندې شوې طرحه، د لسمې مادې (په سرحدي بندرونو کې د بار وړونکو موټرو د نوبت د بهیر تنظیم) په استثنا چې یوازې د شپږو میاشتو لپاره په ازمایښتي ډول د تطبیق وړ ده، تائید کړه.

پر دغه طرحه د اقتصاد وزارت په مشرۍ؛ د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت، مالیې وزارت او صنعت او سوداګرۍ وزارت تخنیکي کمېټو څو میاشتې پرلپسې کار کړی دی، چې اقتصادي کمېسیون تر هراړخیزې ارزونې وروسته یوازې د یوې مادې په استثنا د تطبیق وړ وبلله.

د دغې طرحې په لومړۍ ماده کې راغلي چې د ترانسپورټي خدمتونو د محصول اخیستو پر مهال د فساد د مخنیوي په خاطر باید په اسیکودا سیستم کې له یو ټاکلي عدد څخه ګټه واخیستل شي. د ترانسپورټ او هوایي چلند او مالیې وزارتونو د ګډ تفاهم پر اساس به له دې وروسته د دریو میاشتو لپاره پر یوه ټن ۱۳۰ افغانۍ محصول اخیستل کېږي.

د دغه طرحې دویمه ماده د نقلیه وسایطو د سیرجواز او د موټرچلولو جواز (لایسنس) پر الکترونیکي کېدو او د دغه سیستم پر فعالېدو ټینګار کوي. د نقلیه وسایطو ترافیکي سیر جواز Vehicle Registration (VR) او د موټر چلولو جواز Driver License (DL) په دودیز ډول قلمي تر سره کیږی. خو د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د سیر او موټر چلولو جوازونو پر الکترونیکي سیستم لا پخوا کار کړی دی او د یاد وزارت مرستیال وزیر په وینا، یاد سیستم د قراردادي شرکت له خوا ٤٤ میلیونه امریکایي ډالره په بدل کې تیار کړي دي. همدارنګه د کابل ښاروالۍ د DL او VR سیستم لپاره لازم او ضروري وسایل لا دې مخه په یو ون سټاپشاپ (You One Stop Shop) کې د ترافیکو په واک کې ورکړي دي.

له بلې خوا د ترافیکو ریاست د موټرچلولو او د سیر جواز مقررې طرحه د وروستیو پړاوونو د تېرولو لپاره عدلیې وزارت ته استولې ده.

د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټي چارو کمېسیون د عدلیې وزارت له لوري د موټرچلولو او د سیر جواز مقررې طرحې د ژر نهایي کېدو، د کابل ښاروالۍ له لوري د DL او VR جوازونو د صادرولو لپاره د الکترونیکي سیستمونو پر ژر فعالېدو ټینګار کوي، چې له فعالېدو سره به یې عملاً تطبیق هم پیل شي.

د دې طرحې درېیمه ماده بیا په افغانستان کې د ترانسپورټي سیستم خلاف (ښي لاس) موټرونو پر فعالیت تمرکز کوي. له کلونو راهیسې د افغانستان د ترافیکي قانون خلاف د ښي لاس ګاډي (د پاکستان لاس) په غیر قانوني ډول هیواد ته وارد شوي دي او له ترافیکي- ترانسپورټي اسنادو پرته فعالیت کوي. له یوې خوا دولت ته هېڅ ډول محصول نه ورکوي او له بلې خوا له هېڅ دولتي اداري سره د نومړو ګاډو ثبت هم نه دی شوی او په هکله یې احصایه هم نشته. هره لحظه شونې ده، چې له دغو ګاډو څخه ناوړه ګټه واخیستل شي.

په دې هکله د ترانسپورټي چارو د تنظیم کمېسیون په خپله طرحه کې له ٤٠٠٠-٨٠٠٠ افغانیو فیس ټاکلی، چې د کابینې لخوا د مصوبې تر تصویب وروسته د ترافیکو لوی ریاست مکلف دی، دغه خبر د دغو ګاډو تر مالکینو ورسوي، څو هغوی د شپږو میاشتو په جریان کې خپل ګاډي راجستر کړي.

په بار وړونکو موټرو باندې په ټاکلي ځای کې د نمبر پلیټونو رېبېټ او یا ګیسي کول د دغه

طرحې څلورمه موضوع ده. د بار وړونکو ګاډو زیاتره څښتنان د خپلو موټرو نمبر پلیټونه په ټاکلي ځای کې نه نښلوي او د موټر مخکینۍ ښیښه کې یې ږدي، چې له امله یې د هېواد د ګمروکاتو د سکوډا سیستم پر وړاندې جدي ستونزې رامنځته کړې دي. موټر چلوونکې کولای شي په اسانۍ سره د نمبر پلیټ یو او بل ګاډي ته رد او بدل کړي او له عوایدو څخه د تېښتې سبب وګرځي. د دغې طرحې له مخې دغو موټر چلوونکو ته دوه میاشتې وخت ورکول کېږي، څو نمبر پلیټونه په خپل ځای کې ولګوي، کنه د ترافیکو لوی ریاست له لوري ترې جوازونه اخیستل کېږي او د فعالیت اجازه نه ورکوي.

د ترانسپورتي او ترافیکي اسنادو نه لرونکو موټرونو فعالیت هغه موضوع ده، چې د دې طرحې په پنځمه ماده کې پرې بحث شوی. افغانستان ته د ځینو ګمرکونو له لارې یو شمېر موټرونه په قانوني ډول وارد شوي، خو د ترافیکو د سیر او ترانسپورتي فعالیتونو له جوازونو پرته فعالیتونه کوي.

د ترانسپورتي چارو د تنظیم کمېسیون د دغه ستونزې لپاره په خپله طرحه کې د مالیې وزارت په لګښت د One Stop Shop د رامنځته کولو وړاندیز کړی دی، چې په فعالېدو سره به یې اسناد نه لرونکي، ډبل کاري شوي او د باډي تغییر شوي ګاډې د One Stop Shop له جوړېدو وروسته اړوندې اداري د تخنیکي چک بهیر، جواز سیر او ترانسپورتي فعالیت جوازونو ورکړه پیل او ګمرکي محصول به هم ترې اخیستل کېږي.

د دغې طرحې په شپږمه ماده کې د هغو ګاډو چې له ډېرو کلونو څخه یې خپل د ترافیکي سیر او ترانسپورتي فعالیت جوازونه نه دي تمدید کړي، بحث کېږي. د بار وړونکو ګاډو په ګډون، بسونه، ټکسي او شخصي ګاډي د سیر او ترانسپورتي فعالیت د جوازونو د نه نوي کېدو له درکه ډېر باقي او د جریمو له نه تسلیمولو پرته فعالیت کوي.

خو په یاده طرحه کې د دغو ګاډو باقیداری او جرمانې په کټه ګوریو وېشل شوې دي چې باید د هغه پر اساس هر ګاډی خپله باقي داري او جرمانه تسلیم کړي.

په ترانسپورتي ګاډو کې د (GPS) نصبول هغه مهمه موضوع ده چې په دغه طرحه کې په اوومه ماده کې وربانديې بحث شوی دی. د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت د امنیت د ټېنګښت، د ګاډو د فعالیتونو د مدیریت او د احصایې د اخیستو په موخه د ترانسپورتي موټرو (بار وړونکي، بس او ټکسي) لپاره د GPS نصبولو لپاره طرحه وړاندیز کړې ده. دا طرحه دوې برخې لري: لومړۍ برخه یې کورني موټر دي، چې په دولت هیڅ لګښت نه راځي او د GPS پېرلو او نصبولو لګښت د موټر د خاوند پر غاړه دی.

دویمه برخه یې د بهرنیو ترانزیټي موټرو پر کانټیرونو باندې د GPS نښلول دي. په دغه حالت کې د GPS اخیستلو او نښلولو لګښت د اسلامي امارت پر غاړه دی. د دغو GPS قېمت تر ۶۰ ډالرو اټکل شوی دی.

د دغه طرحې په اتمه ماده کې په کابل کې د ترانسپورتي او ترافیکي سیستم پر سمون بحث کېږي. د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت په کابل ښار کې د عامه غیر رسمي ترانسپورټ او ترافیکي نظم د سمون لپاره یوه طرحه جوړه کړې ده. په دغه طرحه کې به ټول لوی او کوچني بسونه په ټاکلي لین کې د مشخص مهالویش له مخې فعالیت کوي. پر هر لوی او کوچني بس به د ټاکلي لین په نوم سټیکر نښلول کېږي.

د پلازمینې کابل د بسونو د ترمینال پر ستونزو د یادې طرحې په نهمه ماده کې بحث کېږي.

د ترانسپورتي چارو د تنظیم کمېسیون د ریاست الوزراء د هدایت پر اساس په دغه برخه کې یوه جامع طرحه جوړه کړې.

په سرحدي بندرونو کې د بار وړونکو ګاډو د لېږد بهیر تنظیمولو طرحه باندې په لسمه ماده کې بحث کېږي، چې د اقتصادي کمېسیون له لوري له نورو مادو په استثنا دغې مادې ته یوازې د ۶ میاشتو لپاره په ازمایښتي ډول د فعالیت اجازه ورکړل شوه. د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې له مخې به په راتلونکي کې د دغه مادې په اړه ۶ میاشتې وروسته د پایلو پر اساس تصمیم نیول کېږي.

اقتصادي کمېسیون په افغانستان کې د معیاري ځمکني ترانسپورتي سیستم د رامنځته کولو او ترانسپورتي ستونزو د حل لپاره په لسو مادو کې د دغه کمېسیون وړاندې شوې طرحه، د لسمې مادې (په سرحدي بندرونو کې د بار وړونکو موټرو د نوبت د بهیر تنظیم) په استثنا چې یوازې د شپږو میاشتو لپاره په ازمایښتي ډول د تطبیق وړ ده، تائید کړه.

**د یادولو وړ ده چې د دغې طرحې په عملي کېدو سره به په کلني ډول د دولت خزانې ته نږدې ۳۰ میلیارده افغانۍ عواید راټول شي.**



اقتصادي کمېسیون؛

## تر هراړخیزې ارزونې وروسته د ځنګلونو د وهلو او قاچاق د مخنیوي لپاره جوړه شوې طرحه تائید کړه

نېټه: ۲۰۲۲، جون ۱۶مه

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ۲٤مه غونډه کې پر بېلابېلو اقتصادي موضوعاتو مفصل بحثونه او لازمې پرېکړې وشوې.

اقتصادي کمېسیون د مالیې وزارت د ګمرکاتو ریاست په مشرۍ د هغه کمېټې پرېکړې تائید کړې، چې څه موده مخکې یې د «ابونصر فراهي» بندر ته سفر کړی و. د دغو پرېکړو له مخې به د افغانستان اسلامي امارت د قوانینو په رڼا کې د ابونصر فراهي بندر ترانشیپ لارې ته د اوس لپاره په رسمي ډول د بیا فعالیت اجازه ورکړل شي. دغه لاره څه موده مخکې د بې کیفیته او قاچاقي توکو د واردولو له امله تړل شوې وه.

له دغو پرېکړو وروسته د دغه بندر د ترانشیپ له لارې د ټولو هغو توکو او محصولاتو واردول مطلق بند دي، چې د اسلامي امارت له لوري غیر قانوني بلل کېږي. که بیاځلې سوداګر بې کیفیته توکي وارد کړي، له دوی سره به قانوني چلند کېږي او مالونه یې ترې ضبط کېږي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې تر هراړخیزې ارزونې وروسته د ځنګلونو د وهلو او لرګیو د قاچاق د مخنیوي په موخه د کرنې وزارت له لوري وړاندې شوې طرحه هم تائید او د تطبیق وړ وبلل شوه.

د دغې طرحې پر اساس هېڅوک حق نه لري چې په خپل سر ځنګلونه ووهي او یا هم وهل شوي لرګي بهر ته قاچاق کړي.

د کرنې وزارت له لوري دغه طرحه په داسې حال کې جوړېږي، چې د تېرو شلو کلونو پر مهال د هیواد پر طبیعي ځنګلونو مافیا حاکمه وه، د هغوی له لوري په خپل سر وهل کېدل او بهر ته یې قاچاق روان و.

# د سرو زرو د موقت صدور لپاره جوړ شوی طرزالعمل تائید او د تطبیق وړ وباله

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ۲٤مه غونډه کې د مالیې وزارت له لوري د سرور زرو د موقت صدور په اړه پر جوړ شوي طرزالعمل مفصلې خبرې وشوې. دغه طرزالعمل په ۱۵مادو کې ترتیب شوی او ټول هغه مهم موارد چې د سرو زرو د موقت صادراتو لپاره لازم دي، پکې په پام کې نیول شوي دي.

د دغه طرزالعمل پر اساس هر قانوني طلا پلورونکی چې رسمي جواز ولري، یوه میاشت کې کولی شي ۱۰ کیلوګرامه سره زر بهر ته د ترمیم او یا هم پروسس لپاره انتقال کړي او مکلف دی چې بېرته یې په ۳ میاشتو کې هېواد ته راوړي.

بهر ته د سرو زرو د موقت انتقال پر مهال هر زرګر مکلف دی چې د هر کیلوګرام سرو زرو په مقابل کې اړوند ګمرک ته ۲۰ زره امریکایي ډالر او یا د هغه معادل پیسې د ضمانت په توګه وسپاري. د لا ښه کنټرول په موخه د سرو زرو صادرات یوازې د هېواد له نړیوالو ډګرونو کېدلی شي.

د دغه طرزالعمل له مخې یوازې هغه زرګر او یا هم طلا پلورونکی کولی شي بهر ته سره زر د پروسس او یا هم بیا ترمیم په موخه انتقال کړي، چې د صادرولو غوښتنه یې د زرګرانو ټولنې لخوا رسماً تائید شوې وي. که یو زرګر او یا هم طلا پلورونکی وغواړي چې په ۳ میاشتو کې له ۱۰ کیلوګرامه زیات سره زر بهر ته د ترمیم لپاره انتقال کړي، پر نقدي ضمانت سربېره مکلف دی چې دوه رسمي جواز لرونکي طلا پلورونکي چې د زرګرانو ټولنې لخوا تائید شوي وي، د نوموړي ضمانت وکړي او ضمانت لیک یې مالیې وزارت ته وړاندې کړي.

د سرو زرو د موقت صدور په طرزالعمل کې راغلي چې د هرې اجازه نامې د طی‌مراحل فیس ۲۰ زره افغانۍ دی چې د ګمرکونو لوی ریاست عوایدو ته جمع کېږي. له دې امله چې د سرو زرو په پروسس کې نور فلزات هم استفاده کېږي، نو د واردولو پر مهال باید په في کیلوګرام کې ۱۵۰ ګرامه زیاته راوړل شي. د بېلګې په توګه، که ۱۰ کیلوګرامه سره زر بهر ته انتقال شي، بېرته باید ۱۱,۵ کیلوګرامه راوړل شي.

د سرو زرو د موقت صدور په غوښتپاڼه/ غوښتنلیک کې د دویم نفر نوم او مشخصات د شرکت او یا هم زرګرۍ د مالک تر څنګ درج کېږي، چې د اړتیا په وخت کې اړوند مسؤلیتونه او تعهدات پر ځای کړي.

د دغه طرزالعمل له مخې که چېرې موقت صادر شوي سره زر په ټاکلي وخت هېواد ته را نه وړل شي، د اړوند زرګر فعالیت تر هغه چې سره زره بېرته هېواد ته انتقال کړي، بندېږي او که یې انتقال نه کړي، نقدي ضمانت یې د دولت قطعي حساب ته انتقالېږي او دغه زرګر باید د ورځني بازار په بیه د هرې کیلو په مقابل کې یې دولت ته قیمت ورکړي؛ ځکه سره زر د ملي پیسو پشتوانه ده.

دغه طرزالعمل د اقتصادي کمېسیون د هدایت پر اساس د مالیې وزارت په مشرۍ؛ د صنعت او سوداګرۍ وزارت، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، د افغانستان بانک او د زرګرانو ټولنې له لوري په همغږۍ جوړ شوی دی، چې په اقتصادي کمېسیون کې تر هراړخیزې ارزونې وروسته تائید او د تطبیق وړ وبلل شو.



# له DP World کمپنۍ سره د افغانستان د بندرونو د عصري کولو په موخه د تفاهم پرېکړه وکړه

د رياست‌الوزراء د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون په ۲۱مه غونډه کې تر مفصل بحث وروسته، کابل ښاروالۍ ته سپارښتنه وشوه، څو هغه شپږ مشارکتي پروژې چې ښاروالۍ يې د اقتصادي کمېسيون له لوري د ابتدايي منظورۍ غوښتنه کوي، ازادې داوطلبۍ ته وسپارې.

کابل ښاروالي وايي، دا پروژې د ۲۸,۲۵,۲۰ کلونو لپاره د هستوګنې او سوداګريزو مرکزونو لپاره د استفادې په موخه ورکوي،




د دغې کمپنۍ مسؤلين وايي، که له افغان لوري سره موافقې ته ورسېږي، لومړی به د افغانستان په درېيو او وروسته په اوو بندرونو کې د وچې مېوې صادرات او له هغه لوري د نورو توکو واردات پيل کړي.

چې دوی ته ترې۴۵،۴۰،۴۲، سلنه عواید برابرېږي او د ټاکلي وخت تر پوره کېدو وروسته به يادې پروژې د ښاروالۍ ملکيت ګرځي.

د حميد سوداګريز مرکز، د جمهوريت هستوګنيز او سوداګريز مرکز، د افغانستان د وچې مېوې نندارتون او نمونې اېښودلو مرکز، د درېيمو مکروريانو پلازا او د حبيب بلال سوداګريز مرکز هغه پروژې دي چې کابل ښاروالي به يې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کوي.

اقتصادي کمېسيون همدارنګه له DP World کمپنۍ سره د افغانستان د بندرونو د عصري کولو او د افغانستان د صادراتو لپاره د آسانتياوو په موخه د تفاهم پرېکړه وکړه. دغه کمپنۍ د نړۍ د ډېرى هېوادونو په بندرونو کې فعاليت کوي او تر ۱۵ کلونو زياته تجربه لري.

د دغې کمپنۍ مسؤلين وايي، که له افغان لوري سره موافقې ته ورسېږي، لومړى به د افغانستان په درېيو او وروسته په اوو بندرونو کې د وچې مېوې صادرات او له هغه لوري د نورو توکو واردات پيل کړي.

په دې سره به د افغانستان وچې او تازه مېوې نړيوال بازار ته په وخت ورسېږي او د خرابېدو مخنيوى به يې هم شوى وي.

د اقتصادي کمېسيون په دغه غونډه کې د افغانستان رېل پټلۍ ادارې ته اجازه ورکړل شوه چې د حيرتان رېل پټلۍ د خدماتو پروژه د نوي قرارداد په موخه داوطلبۍ ته وړاندې کړي. د رېل پټلۍ اداره وايي چې د حيرتان رېل پټلۍ بشپړ مسؤليت بايد افغان لورى ولري او د خدماتو وړاندې کولو لپاره به له بل شرکت سره قرارداد کېږي.

د حيرتان ريل پټلۍ پروژه په ۲۰۱۱م کال کې د ۱۵۴ ميليونو ډالرو په ارزښت د آسيايي بانک په بلاعوضه مرسته جوړه شوې ده، چې ۷۵ کيلومتره اصلي کرښې، ۳۱ کيلومتره فرعي کرښې او ټولټال ۱۰۶ کيلومتره اوږدوالى او ۵ سټېشنونه لري.



# متحده عربي اماراتو ته

## د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال سفر او لاسته راوړنې

عزت الله بدلون

### مقدمه

د تاریخ په اوږدو او هم په اوسنۍ نړۍ کې هېوادونه اړ دي چې له یو بل سره اړیکې ولري. دا هېڅ شونې نه ده چې یو هېواد دې له نورو سره له دوستانه او نېکو اړیکو پرته پر مخ لاړ شي. یو هېواد که هر څو پر ځان بسیا وي، بیا هم باید له نورو سره اړیکې ولري. په ځانګړي ډول په اوسنۍ نړۍ کې دا چاره ډېره مهمه ده؛ د نړۍ هېوادونه او خلک یو بل ته خورا ډېر نیږدې شوي، یو بل ته په هره برخه کې اړتیاوې زیاتې شوې او د نړۍ پر مخ د خپلو دروازو تړلو سره ژوند ناشونی دی.

اسلامي امارت له نړۍ سره د نېکو اړیکو ارزښت ښه درک کړی دی او واک ته د رسېدو له لومړۍ ورځې یې هڅه دا وه چې له نړۍ سره دوستانه او نېکې اړیکې ولري. د دې موخې لپاره د اسلامي امارت مشرانو او چارواکو د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته سفرونه وکړل، په بېلابېلو نړیوالو غونډو کې یې ګډون وکړ او د نړۍ د لویو هېوادونو مهم چارواکي کابل ته راغلل. پر هر ستېج د اسلامي امارت لومړۍ خبره همدا وي چې موږ له ټولې نړۍ سره داسې دوستانه اړیکې غواړو چې د دواړو لوریو لخوا نېک نیت پکې وي؛ ملي ګټو او ارزښتونو ته درناوی پکې وشي.

نړۍ د اسلامي امارت د نېک نیت ښودلو او په هره برخه کې د اړیکو پیاوړي کولو لپاره څه موده وړاندې، د ۱٤٤۳ هـ .ق کال د شوال میاشتې په ۱۵مه چې د ۱٤۰۱ لمریز لېږدیز کال د ثور میاشتې له ۲۶مې سره سمون خوري؛ د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، ملا عبدالغني برادر اخوند د يوه لوړ پوړي دولتي پلاوي په مشرۍ متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ. د دغه مهم سفر موخه د متحده عربي اماراتو د دولت پخواني رئيس، شيخ خليفه بن زايد آل نهيان د مړينې له کبله د متحده عربي اماراتو له خلکو او د دغه هېواد له اوسني رئيس، شيخ محمد بن زايد آل نهيان سره غمشريکي وه. د سفر په لومړۍ ورځ، د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، ملا عبدالغني برادر اخوند او ورسره مل پلاوي د متحده عربي اماراتو له رئيس، شيخ محمد بن زايد آل نهيان سره وکتل.

دغه سفر سربېره پر دې چې متحده عربي اماراتو ته د افغانستان اسلامي امارت د لا ډېر نیږدې کېدو سبب شو؛ ډېرې مهمې لاسته راوړنې یې هم لرلې. په دغه سفر کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، ملا عبدالغني برادر اخوند په متحده عربي اماراتو کې له مېشتو افغان سوداګرو، د متحده عربي اماراتو چارواکو او ځينو لويو خصوصي شرکتونو له مشرانو سره وليدل چې په راتلونکو کرښو کې به يې په اړه تفصيلي معلومات وړاندې کړم.

### د افغانستان - متحده عربي اماراتو اړیکې

افغانستان او متحده عربي امارات تاریخي، اقتصادي، سیاسي او کلتوري اړیکې لري. د دواړو هېوادونو تر منځ ډیپلوماټیکې اړیکې په ۱۹۷۳ز کال کې پیل شوې او له تېرو څلورو لسیزو راهیسې دا اړیکې د وخت د حکومتونو دتعامل پر بنسټ رواني وې. متحده عربي اماراتو په بېلابېلو وختونو کې پر بشري مرستو سربېره د افغانستان په بیا رغوونه او زیربنایي کارونو کې هم ډېره ونډه اخیستې؛ سړکونه، ښوونځي، جوماتونه، پوهنتون (د خوست شیخ زاید پوهنتون) او ... یې جوړ کړي. متحده عربي اماراتو همداراز له افغانستان سره د پولیو د ختمولو او د ماشومانو لپاره د واکسینو په برخه کې هم پراخې مرستې کړې دي. په دې وروستیو کې په افغانستان کې د اشغال له ختمېدو وروسته دغه هېواد خپل سفارت تر موقتي بندولو وروسته بېرته پرانیست او خپلو بشري مرستو او د بیا رغوونې په برخه کې همکارۍ ته یې دوام ورکړی.



## د متحده عربي اماراتو له چارواکو سره لیدنې

د دغه مهم سفر په جریان کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند د متحده عربي اماراتو له بېلابېلو چارواکو سره ولیدل. په دغو لیدنو کې د افغانستان او متحده عربي اماراتو تر منځ د سوداګریزو اړیکو پر پیاوړي کولو او پراخولو هر اړخیز بحثونه وشول او د پام وړ لاسته راوړنې یې لرلې. د متحده عربي اماراتو له چارواکو سره همداراز په دغه هېواد کې د مېشتو افغانانو د ستونزو د حل په اړه خبرې وشوې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند د متحده عربي اماراتو له چارواکو وغوښتل چې افغانانو ته د ویزو ستونزې حل کړي او افغانستان ته دې د متحده عربي اماراتو پروازونه پیل شي. د متحده عربي اماراتو چارواکو هم د دغه موضوعاتو په اړه افغان لوري ته ډاډ ورکړ. د دواړو لوریو تر منځ د بحث بله مهمه موضوع دا وه چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له اماراتي لوري وغوښتل چې افغان کارګرو ته په دغه هېواد کې د قانوني کار لپاره ویزې ورکړي او د اماراتو چارواکو یې هم هرکلی وکړ. اوس هم زرګونه افغانان په دغه هېواد کې په بېلابېلو برخو کې کار کوي چې په راتلونکو کلونو کې به یې کچه لوړه شي. دا چاره به د نورو ګټو تر څنګ هم د هېواد په اقتصادي وده کې مرسته وکړي او هم به دا خلک خپلو کورنیو ته ښه عاید برابر کړي. په دغه هېواد کې د بهرنیو عادي کارکوونکو د میاشتنې عاید اوسط ۴۵۰ امریکایي ډالر دی.[1]

په دغو لیدنو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز د متحده عربي اماراتو له چارواکو وغوښتل چې هغه افغان بندیان ازاد کړي چې جرمونه یې سپک دي او د هغو بندیانو دوسیې دې اسلامي امارت ته وسپاري چې جرم پرې ثابت شوی. اسلامي امارت به بیا د دوی په اړه حکم وکړي.

## په متحده عربي اماراتو کې له مېشتو افغان سوداګرو سره ناسته

د دغه مهم سفر په لړ کې، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند له هغو افغان سوداګرو سره وکتل چې په متحده عربي اماراتو کې مېشت دي، هلته یې پانګونه کړې او له هېواده بهر کاروبار کوي. ویل کېږي چې افغان سوداګرو په متحده عربي اماراتو کې په میلیاردونو ډالر پانګونه کړې ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دوی ستونزې واورېدې، ډاډ یې ورکړ او خپل وطن ته یې راوبلل. سوداګرو هم خپل وطن ته د راتګ او دلته یې د پانګونې ژمنه وکړه. د دغو سوداګرو په راتګ سره به وطن ته ډېره پانګه راشي او په اقتصادي وده کې به د پام وړ مرسته وکړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند دغو سوداګرو ته وویل:

**« موږ ستاسو ټولې ستونزې اورو او حلالې ورته سنجوو. د افغانستان پرمختګ یوازې د امنیت په ټینګښت کې نه دی، افغانستان ستاسو پانګوالو پانګونې او نـورو خدمتونو ته اړتیا لري... تاسو ته معلومه ده چې افغانستان له معدنیاتو څخه ډک دی؛ خو دا ستاسو پانګوالو پانګونې ته اړتیا لري. چې په هره  برخه کې کولی شئ، موږ یې زمینه درته برابروو؛ ستاسو د امنیت، عزت او مال خیال ساتو او دا زموږ زمه‌واري ده.»**

اوس هغه وخت دی چې افغانستان پر خپلو پښو ودرېږي؛ فساد ورک شوی، امنیت خوندي دی او دولت د وطن جوړولو لپاره پلانونه او ریښتینې موخه لري. د دې لپاره باید ټول د وطن ابادۍ او پر ځان بسیا کولو ته کار وکړي؛ هغه که د کور د ننه سوداګر دي، که په بهر کې مېشت سوداګر او که عام افغانان. اوس د دغو سوداګرو د راتګ لپاره تر ټولو غوره وخت دی؛ باید راشي او خپله پانګه په خپل وطن کې په کار واچوي.

## د DP World شرکت له مرستیال اجرایه رئیس سره لیدنه

DP World، د متحده عربي اماراتو نړیوال شرکت دی چې د لوجستیک، ترمینالونو، سوداګریزو بندرونو، بحري خدمتونو او اقتصادي زونونو په برخه کې له ۲۰۰۵ز کال راهیسې فعالیت لري. دا پېژندل شوی شرکت د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې په پورته ذکر شویو برخو کې فعالیت کوي.[2]

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند متحده عربي اماراتو ته په سفر کې د دغه شرکت له مرستیال اجرایه رئیس، محمد المعلم سره وکتل. په دې لیدنه کې دواړو لوریو د سوداګریزو اړیکو پر پراختیا او په افغانستان کې د سوداګریزو بندرونو پر عصري کولو بحث وکړ. له دغه شرکت سره تر قرارداد کولو وروسته به د نړۍ هېوادونو ته د افغانستان د تولیداتو لېږد اسانه شي او په اسانۍ به تر نړیوال مارکېټ پورې ورسېږي.

د صادراتو او وارداتو منظمېدل او په دې برخه کې اسانتیاوې یوه اړتیا ده چې له دې سره به د هېواد اقتصاد وده وکړي او د افغانستان لوړ کیفیت لرونکي تولیدات به د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېږي. په دې برخه کې د شته ستونزو په لرې کېدو سره به په کور دننه تولیدوونکي وهڅول شي چې خپل تولیدات زیات کړي او له دې سره به ګڼ شمېر وطنوالو ته په کور دننه د کار زمینه برابره شي. د افغانستان تولیدات ډېر لوړ کیفیت لري او په نړۍ کې یې ځانګړې مینه وال دي؛ نو څنګه چې باید پام ورته وشي، پخوا دومره پام نه و ورته شوی. د اسلامي امارت په راتګ او د دوی په نه ستړې کېدونکو هڅو اوس دغه کار ته هیلې پیدا شوې دي.

## پایله

افغانستان او متحده عربي امارات تاریخي، اقتصادي، سیاسي او کلتوري ټینګې اړیکې لري. د دغو اړیکو مخینه څو لسیزو ته رسېږي. اسلامي امارت چې له ټولې نړۍ سره دوستانه اړیکې غواړي، متحده عربي اماراتو ته د یوه ملګري هېواد په سترګه ګوري او له دغه هېواد سره اړیکې پراخول او لا ټینګول غواړي. د همدې موخې لپاره د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند دغه هېواد ته سفر وکړ. دغه پنځه ورځنی سفر د افغانستان لپاره په بېلابېلو برخو کې ډېرې مثبتې او مهمې پایلې لرلې. د دغه مهم سفر په جریان کې ټولې ناستې او تفاهمونه د افغانستان لپاره لاسته راوړنې دي. دا سفر هم د دواړو هېوادونو تر منځ په بېلابېلو برخو کې د اړیکو د ټینګېدو سبب شو؛ هم د ځینو لویو پروژو پیلامه.

1-https://www.helperchoice.com/c/domestic-workers-salary-survey-middle-east-2016

2-https://www.dpworld.com/about-us



# له ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید اهمیت او اړتیا

احسان الله ذهین

## له ډبرو سکرو څخه د ګټې اخیستنې تاریخچه

له تاریخي نظره یونان، روم او چین د ډبرو سکرو لومړني کاروونکي هېوادونه وو. یوناني آهنګرانو په ۲۸۸-۳۷۱ تر میلاد مخکې کلونو او چینایانو هم تر میلاد ۱۰۰ کاله وړاندې د ډبرو سکاره کارول. په انګلستان کې هم د ډبرو سکرو استفاده په ۱۲۳۹م کال کې په رسمي توګه پیل شو. په ۱۵۵۸-۱۶۰۳م کلونو کې لندن په نړۍ کې لومړی مهم ښار و چې له ډبرو سکرو څخه یې د تودوخې د تولید لپاره ګټه اخیسته. امریکایي بومیانو هم د ډبرو سکاره استفاده کول. تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته کلونو پورې چې د نفتو کارېدنه پراخه شوه، د ډبرو سکاره د نړۍ د انرژۍ مهمه سرچینه ګڼل کېده. په ۱۹مه پېړۍ او د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د نړۍ د اړتیا وړ ۵۰٪ انرژي له ډبرو سکرو څخه چمتو کېده. تر دې چې په ۱۸۶۰م کال کې د ډبرو سکرو اهمیت دومره لوړ شو چې د نړۍ د کاني توکو ۶۰٪ ارزښت یې ځان ته ځانګړی کړ. خو په نړیواله کچه د انرژۍ چمتو کېدو ډګر ته د نفتو او ګازو په راتګ سره د ډبرو سکرو رول مخ پر ځوړ روان شو او د ۲۰مې پېړۍ په نیمایي کې ۲۰٪ ته راولوېد.
د سون په توګه د ډبرو سکرو کارېدنه د ۱۸مې پېړۍ له لومړیو څخه تر لرګیو وړاندې شو. د ۱۹ مې پېړۍ په منځنیو کې له نفتو څخه ګټه اخیستنه تر ډبرو سکرو ډېره شوه، تر ۱۹۶۰م کال وروسته د انرژۍ د چمتو کېدو په برخه کې د نفتو کارېدنګ تر ډبرو سکرو بشپړ وړاندې شو او د شملې پېړۍ تر دویمې نیمایي وروسته تر دغو دوو د طبیعي ګاز کارېدنګ ډېر دود شو. په اروپا کې تر صنعتي انقلاب وروسته د ډبرو سکاره د اروپا او امریکا د انرژي د تولید تر ټولو مهم توک وګرځېد. د دې کاني مادې ارزښت په ځانګړې توګه د اروپا تر صنعتي انقلاب وروسته ډېر څرګند شو او د فولادو تولید کارخونو او د برښنا تولید فابریکو په ګډون د بېلابېلو موخو لپاره وکارېدل.

## د انرژۍ سرچینې

انرژي هغه مهم عامل دی چې په تولید کې اساسي رول لري. د انرژۍ سرچینې د اقتصاد او تولید لپاره د خوځنده ماشین رول لري او په اقتصادي ډګر کې د هېوادونو ځای او مقام ټاکي. انرژي لومړنۍ اړتیاوې او خدمات لکه تودوخه، یخني، ترانسپورت او نورې اسانتیاوې رامنځته کوي. مخ پر ودې هېوادونو کې چټکې اقتصادي ودې او په صنعتي هېوادونو کې دوامدارې ودې د انرژۍ تقاضا لوړه کړې ده. په نړۍ کې د برښنا تولید په فابریکو کې د انرژۍ مختلفې سرچینې کارول کېږي چې دغه سرچینې ښایي فوسیلي سونتوکي (نفت، ګاز او د ډبرو سکاره) وي یا د هغو سرچینو برخه وي چې نوې انرژۍ ورته ویل کېږي لکه (لمریزه، بادي، هستوي، اقیانوسي جریان، نوري انرژي او...). په دې منځ کې د ډبرو سکاره د فوسیلي سونتوکو په توګه له ډېرو پخوا زمانو څخه تر اوسه د برښنا په تولید کې اغېزمن رول لري. د ډبرو سکاره په اوسنۍ نړۍ کې خورا باارزښته کاني انرژي تولیدوونکی توک دی، چې د زېرمو له نظره په نړۍ کې په خورا زیاته پیمانه موندل کېږي.
فوسیلي سونتوکي (Fossil fuel) چې نفت، طبیعي ګاز او د ډبرو سکاره پکې شامل دي، په نړۍ کې



د انرژۍ خورا مهمې سرچينې دي، چې له پخوا راهيسې يې خپل اهميت ساتلی دی. خو د برښنا د توليد په فابريکو کې د ډبرو سکرو ونډه تر نورو هغو ډېره ده. افغانستان د ډبرو سکرو او نورو کانې توکو له اړخه يو بډای هېواد دی، د برښنا د توليد لپاره د ډبرو سکاره کارېدنګ د انرژۍ په توليد کې تنوع او نوي فرصتونه رامنځته کوي. په کور دننه د انرژۍ توليد او له بهره د وارداتي برښنا د کمښت لامل کېږي. په ورته مهال کې د هېواد د اقتصادي غوړېدا او په هېواد کې په نفت لرونکو سيمو کې د کارموندنې فرصتونه رامنځته کوي.

## د انرژۍ په توليد کې د سرچينو د تنوع اهميت

د برښنا توليد لپاره زياتې سرچينې شته چې د ډبرو سکاره، د اوبو انرژي، نفت، طبيعي ګاز، هستوي، لمريزه او بادي انرژي پکې شامله ده. د فوسيلي سونتوکو لکه نفت، ګاز او ډبرو سکرو محدوديت او ختمېدل داسې يوه ستونزه ده چې د نړۍ ډېر هېوادونه ورسره لاس او ګرېوان دي. له دې امله هېوادونه هڅه کوي چې د خپلې انرژۍ سرچينو ته تنوع ورکړي. د نړۍ ډېر هېوادونه د تلپاتې او ډاډمنې پراختيا د تضمين لپاره د انرژۍ سرچينو د ډولونو د ملاتړ پر اساس تګلارې تعقيبوي. د انرژۍ اقتصاد له نظره د انرژۍ په سرچينو کې تنوع رامنځته کول او د مختلفو سونتوکو له کړۍ څخه ګټه اخيستل يوه مهمه او منطقي چاره ده. ستر صنعتي هېوادونه لکه امريکا، جاپان، چين، هند، روسيه، مکسيکو، ايټاليا او بريتانيا ټول د نړۍ د برښنا د سترو توليدوونکو هېوادونو په ډله کې دي، چې د برښنا د توليد لپاره د ډبرو سکرو، نفتو او ګازو څخه ګټه اخلي.

د انرژۍ د اکثره سرچينو د ختمېدو له امله د نړۍ د مخ پر ودې نفوس او اقتصادي او صنعتي پراختيا د اړتياوو پوره کولو لپاره د انرژۍ سرچينو تامين د هېوادونو لپاره يوه مهمه مسئله ګڼل کېږي. اقتصادي او صنعتي وده، د کورونو او کارځايونو ګرمول او سړول د نه نوې کېدونکې انرژۍ په سرچينو (Non Renewable Resource)[1] او فوسيلي سونتوکو پورې په شدت سره تړلي دي. د فوسيلي سرچينو محدوديت، د نفوس زياتوالی او د انرژۍ تقاضا هغه مسايل دي چې د نړۍ اکثره هېوادونه ورسره مخ دي. د انرژۍ بېلابېلې سرچينې د هر هېواد پانګه ده او بايد داسې ګټه ترې واخيستل شي چې د همېشنۍ پراختيا لپاره لار هواره کړي. د انرژۍ سرچينو ساتنه راتلونکو نسلونو ته د هغو د خوندي کولو په معنی ده. اوسمهال د نړۍ ډېرو هېوادونو د اوسنيو او راتلونکو اړتياوو په پوره کولو کې د انرژۍ د مختلفو سرچينو پر رول او اهميت غور کړی او د هغو د پاليسۍ، ستراتيژۍ او بنسټيزو او اصولي پروګرامونو په برخه کې پانګونه او پراخې څېړنې کوي. د انرژۍ په سرچينو کې فوسيلي انرژۍ (نفت، ګاز او د ډبرو سکاره) او نوې انرژۍ لکه (لمريزه، بادي، د څپو/موجونو، د سمندرونو او سيندونو د څپو، د ځمکې ګرمېدو/ Geothermal، بيوګاز، بيوماس انرژي...) شاملې دي.

دا چې افغانستان د انرژۍ د توليد لپاره د نفتو، ګاز او ډبرو سکرو پريمانه او څه ناڅه د نوې لکه لمريزې او بادي انرژۍ سرچينې هم لري، نو دولت ته پکار ده چې د انرژۍ د توليد لپاره د ډبرو سکرو په ګډون مختلفې سرچينې وکاروي او هېواد ورو ورو له وارداتي برښنا څخه پر داخلي هغې متکي کړي. د نفوس زياتوالی، د ښاري ژوند وده، د خلکو د ژوند کچې لوړوالی او د ټولنې هوساينه، د توليد کچې زياتوالی او د مختلفو صنايعو وده دا ايجابوي چې د برښنا د توليد لپاره د انرژۍ له مختلفو سرچينو څخه ګټه واخيستل شي. د انرژۍ د سرچينو تنوع يو امتياز دی، چې د انرژۍ په توليد کې ثبات او پراختيا رامنځته کوي.

## په نړيواله کچه د ډبرو سکرو کارېدنه

د برېټيش پټروليم شرکت[2] د شمېرو له مخې په نړۍ کې د ډبرو سکرو مجموعي زېرمې ۱,۰۵۵ ميليارد ټنه دي، چې د امريکا متحده اياالت په سلو کې ۲۴، روسيه ۱۵، استراليا ۱٤ او چين ۱۳ سلنه زېرمې لري. د انرژۍ د نړيوال سازمان د شمېرو[3] له مخې، د ډبرو سکرو توليد په ۲۰۱۹م کال کې۱,۵٪ ډېر شوی. مګر د ډبرو سکرو کارول په دغه کال کې۱,۲٪ راټيټ شوي دي. د ډبرو سکرو اصلي تجارت د هغو حرارتي ډول (Coal Steam) دی، چې په ۲۰۱۹م کال کې د

حرارتي برښنا تولید دستګاوو د کمښت له امله کم شوی.

د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د ډبرو سکرو کارول د هېوادونو د کورنیو اړتیاوو له مخې توپیر لري لکه: د حرارتي برښنا په تولید، د فلزاتو په ذوب، د سمنټو په تولید، د کورونو، کارځایونو او... په ګرمولو، صنعت او په ډېرو نورو مواردو کې کارول کېږي. پر دې سربېره د ډبرو سکاره یو متنوع او متحرک سونتوک دی، چې هم د جامد سونتوک په توګه کارول کېدای شي او هم پر ګاز بدلېدای شي او د ګرانبیه وارداتي سونتوکو بدیل په توګه ګټه ترې اخیستل کېدای شي؛ خو په لویه کچه د برښنا د تولید لپاره کارول کېږي. په نړۍ کې له ټولو تولید شوو ډبرو سکرو څخه شاوخوا ٦٤،٤٪ د برښنا تولید لپاره کارول کیږي. د یادولو وړ ده چې د نړۍ ۴۰٪ برښنا[۴] په اوسط ډول له ډبرو سکرو څخه په استفادې تولیدیږي.

د امریکا د ډبرو سکرو بنسټ[۵] په یوه مقاله کې «پر برښنا د ډبرو سکرو بدلون» کې وایي چې په متحده ایالاتو کې له هرو ۱۰ ټنه د ډبرو سکرو څخه ۹ ټنه د برښنا د تولید لپاره کارول کېږي او په دغه هېواد کې تر تولید شوې نیمایي برښنا زیاته له ډبرو سکرو څخه ده. په امریکا کې د برښنا تولید له هرو ۲۵ فابریکو څخه ۲۳ هغه یې په کم عملیاتي لګښت له ډبرو سکرو څخه ګټه اخلي. په دغه هېواد کې تر ۵۰٪ زیاته تولید شوې برښنا د ډبرو سکرو له فابریکو څخه په لاس راځي. په امریکا کې ۴۹۲ د ډبرو سکرو سوځوونکې فابریکې پکې شته دي، په منځنۍ کچه د هرې یوې د برښنا تولید ٦٦٧ میګاواټه دی او منځنی عمر یې ۴۰ کاله دی. د ډبرو سکاره د نړۍ د فوسیلي سونتوکو یوه بډایه سرچینه ده. دغه سرچینه په متالورژي لکه فلزکارۍ او د فولادو په صنایعو کې په نړیواله کچه ۷۰٪ کارول کېږي.

چین او هند هر کال شاوخوا ۱۷۰۰ میلیونه ټنه د ډبرو سکاره مصرفوي. وړاندوینه کېږي چې دغه لګښت په ۲۰۲۵م کې تر ۳۰۰۰ میلیونه ټنه زیاتېږي. د امریکا د ډبرو سکرو مصرف په کال کې شاوخوا ۱۱۰۰ میلیونه ټنه دی، چې ۹۰٪ یې د برښنا د تولید لپاره کارول کېږي. د ډبرو سکاره د نړۍ خورا چټکه د ودې په حال کې سرچینه ده، چې ګټه اخیستنه یې په ۲۵٪ د ودې په حال کې ده.

په ۲۰۰۷ کال کې د نړۍ د ډبرو سکرو تر ۷۶٪ زیاتې سرچینې په پنځو هېوادونو امریکا ۲۸،٦٪، روسیه ۱۸،۵٪، چین ۱۳،۵٪، استرلیا ۹٪ او هند ٦،۷٪ پورې اړوندې وې. په هند کې هم د ډبرو سکاره د برښنا تولید مهمه سرچینه او د سترو صنایعو لکه د فلزاتو او سمنټو صنعت اصلي سونتوک دی. هند په ۲۰۰۷م کال کې د ۴۵۲ میلیونه ټنه د ډبرو سکرو په تولیدولو سره تر چین او امریکا وروسته د ډبرو سکرو دریېم مهم تولیدوونکی هېواد و. همدارنګه په ساعت کې د ۵۰۸ تیراواټه برښنا په تولید سره له ډبرو سکرو څخه د برښنا په تولید کې په ۲۰۰٦م کال کې تر چین او امریکا وروسته دریېم ستر برښنا تولیدوونکی هېواد و. دغه راز په ساعت کې د ۷۴۴ تیراواټه برښنا په تولید سره هند په ۲۰۰٦م کال کې پنځم د برښنا تولیدوونکی هېواد و. استرالیا په ۲۰۰٦م کال کې په ساعت کې د ۱۹۹ تېراواټه برښنا په تولید سره تر جنوبي افریقا وروسته له ډبرو سکرو څخه اووم ستر برښنا تولیدوونکی هېواد و. استرلیا په ۲۰۰۷ م کال کې د ۳۲۳ میلیونه ټنه د ډبرو سکرو په تولید سره تر چین، امریکا او هند وروسته څلورم ځای درلود.[٦]

## له ډبرو سکرو د برښنا تولید، اهمیت او اړتیا

د نړۍ نفوس په زیاتېدو او د صنعتي کېدو په زیاتېدونکي بهیر سره د انرژۍ مختلفو ډولونو په ځانګړې توګه برښنايي انرژۍ ته اړتیا ورځ په ورځ لوړېږي. د ډبرو سکاره د هېوادونو په صنعتي وده کې مهم لري. د برښنا پر تولید سربېره له ډبرو سکرو څخه نورې مهمې استفادې هم کېږي لکه د اوسپنې ویلي کول او د فولادو تولید. په هېواد کې د ډبرو سکرو پریمانه زېرمې له دغې سرچینې څخه د اقتصادي استفادې اړتیا



ایجابوي. د برښنا د تولید لپاره د ډبرو سکرو له حرارتي انرژۍ څخه ګټه اخیستنه د یوه مهم انتخاب په توګه یادولی شو. نو په هېواد کې د ډبرو سکرو سترو سرچینو شتون ته په کتو د برښنا د تولید لپاره د هغو څېړنه او امکان سنجونه د ارزونې لپاره یوه مهمه موضوع ده، چې په دې مقاله کې هم غواړو پر همدې موضوع تم شو او بېلابېل اړخونه یې راوسپړو. په ۲۰۰٦م کال کې امریکا په ساعت کې د ٤۲۷٤ تیراواټه، چین د ۲۸٦٤ تیراواټه او جاپان د ۱۰۹۱ تیراواټه برښنا په تولید سره په نړۍ کې د برښنا ستر تولیدوونکي هېوادونه وو، چې د برښنا په تولید کې یې د ډبرو سکرو ونډه تر نورو هغو زیاته وه.

په اوسني عصر کې د طبیعي زېرمو شتون پر نړیوال ستیج له اقتصادي اړخه د یوه هېواد ځای او مقام ټاکي. البته دا هغه مهال شونې ده چې هېواد له دغو زېرمو څخه ګټه واخلي او د خپل صنعت او اقتصادي ودې لپاره تکیه ورباندې وکړي. زموږ د هېواد طبیعي زېرمو ارزښت شاوخوا درې ټریلیونه ډالر اټکل شوی. «د یوې امریکایي کمپنۍ د څېړنو پر اساس په افغانستان کې د درې ټریلیون ډالرو څخه زیاتې ارزښت لرونکي طبیعي زېرمې شته چې د یورانیمو، طلا، اوسپنې، مس، د ډبرو سکرو او ګاز زېرمې په کې شاملې دي.»[7] دغه راز د ډبرو سکرو د پریمانه زېرمو شتون یو بل امتیاز دی، چې تر یو میلیارد ټنه زیاتې اټکل شوې دي: «په ۲۰۰٤م کال کې د افغانستان د ځمکنیو زېرمو په اړه د امریکا فضایي سروې څرګندوي، چې په افغانستان کې د ډبرو سکرو تولیزې زېرمې له یو میلیارد ټنو څخه زیاتې دي.»[8] خو د ډېرى متخصصینو په باور دا سروې کره نه ده او امکان لري، چې د دغو زېرمو تولیزه اندازه تر دې هم زیاته وي.

نن ورځ په نړۍ کې د ډبرو سکرو خورا ستر مصرفوونکي د برښنا تولید فابریکې ګڼل کېږي، خو زموږ هیواد چې کاني زېرمې یې له دغو کاني توکو څخه مالامال دي، په خورا لوړ لګښت له ګاونډیو هېوادونو څخه برښنا واردوي، تر اوسه یې له ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید مجال نه دی موندلی. په داسې حال کې چې د ډبرو سکرو زېرمې زموږ د هېواد تر اړتیا لا اضافه هم دي. د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پترولیم وزارت په وینا: «له ډبرو سکرو څخه د ۱۷۰۰میګاواټه برښنا د تولید لپاره دغه وزارت لږ تر لږه د ۳۰ کلونو او حداکثر د ٦۰ کلونو لپاره خام مواد ورکولی شي.» [9]

په نړۍ کې د نفتي صنایعو مخ پر ودې بهیر او پر ارزښتمنو توکو د نفتي محصولاتو د بدلېدو وړتیا له امله د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې د سون په توګه له نفتو او ګازو څخه ګټه اخیستنه ورو ورو کمېږي او د نړۍ پام نورو بدیلو سونتوکو ته اوړي. نن د نړۍ اکثره هېوادونه د خپلو فابریکو لپاره د مختلفو سونتوکو او سرچینو په لټه کې دي او د نفتو او ګازو بازار وضعیت د نه وړاندوینې له امله د برښنا په تولید کې د ډبرو سکرو ته پاملرنه ډېره شوې ده. افغانستان په اړه دا خبره ډېره مشهوره ده چې کانونه او تر ځمکې لاندې سرچینې یې بکرې پاتې او لاس نه دی ورباندې وهل شوی؛ نو د ډبرو سکرو د بډایو زېرمو د شتون دا زمینه برابروي ترڅو پر وارداتي برښنا تکیه کمه شي او همدارنګه نورې فوسیلي او نفتي زېرمې د نورو مهمو موخو لپاره سپما شي. دا چاره د نفتو او طبیعي ګاز سرچینو د عمر اوږدېدو لامل هم کېږي او دغه سرچینې راتلونکي ته زېرمه کېږي او ارزښت یې لا لوړېږي؛ ځکه په نړیوال بازار کې یې تر ډبرو سکرو ارزښت او اهمیت په ځلونو لوړ دی.

زموږ هېواد تقریبا ۸۰٪ برښنا د سیمې له هېوادونو واردوي او له داخلي بندونو څخه کمه او د نوې انرژۍ (بادي او لمریزې...) هغې ونډه بنایي ډېره کمه او یا مطالعاتي اړخ ولري. د اوبو برښنا سرچینو څخه ګټه اخیستنه هم یو ښه انتخاب دی، البته په اوږدمهال کې د وچکالۍ له امله دغه سرچینه هم محدوده ده. نو د فابریکو د سون لپاره د فوسیلي سرچینو تر څنګ له ډبرو سکرو څخه ګټه اخیستنه ډېر اهمیت لري.

فوسیلي سونتوکي تر مصرفېدو وروسته له منځه ځي او د نوي کېدو وړ



نه دي. په حقيقت کې د دغو سونتوکو د تشکيلېدو سرعت د هغو تر مصرف په ځلونو ډېر دی. د هر هېواد د صنعتي پراختيا يو اساسي لامل د هغه هېواد د برېښنا فابريکو وده او پراختيا ده. د ډبرو سکاره له هغو توکو څخه دي چې په ډېرو هېوادونو کې د برېښنا په توليد کې ګټه ورڅخه اخيستل کېږي. نو په هېواد کې د ډبرو سکرو کانونو ته په کتو بايد له دې سرچينې څخه د ګټې اخيستنې لپاره مناسب پروګرام جوړ او عملي شي، ترڅو د برېښنا اړتيا تر يوې کچې جبران کړي. د ډبرو سکاره يوه مهمه فوسيلي سرچينه ده چې د فوسيلي سونتوکو په توګه له ۱۹۷۳م کال راهيسې يې د برېښنا په توليد کې خپل اهميت ساتلی دی او د نړۍ ډېره برېښنا له دغې سرچينې څخه په لاس راځي.[۱۰] د برېښنا د توليد لپاره له ډبرو سکرو څخه ګټه اخيستنه دا چانس برابروي چې د انرژۍ د نورو ډولونو (نوو کېدونکو انرژيو/Renewable energy)[۱۱] کې د پراختيا او پانګونې لپاره وخت ترلاسه شي او همدارنګه نور فوسيلي سونتوکي لکه نفت او ګاز په راتلونکي کې د مهمو موخو لپاره سپما شي.

## په افغانستان کې له ډبرو سکرو څخه د برېښنا توليد

د نورو سکتورونو تر څنګ د افغانستان اقتصاد هم د تېرو څلورو لسيزو جګړو او ناامنيو له امله سخته ضربه ليدلې ده. د تېر ۲۰ کلن اشغال په موده د هېواد اقتصاد پر بهرنيو مرستو ولاړ او کاذب اقتصاد و، چې رهبرۍ يې بهرنيو مرستو خړوبولې. د دغو مرستو په بندېدو به يې ستنې لړزېدې او پرځېدو ته به نږدې کېده. برېښنا په اوسني عصر کې د يوه باثباته اقتصاد، صنعتي ودې او د ټولنې او خلکو د هوساينې يوه بنسټيزه اړتيا ده. له بده مرغه افغانستان په شدت سره پر وارداتي برېښنا متکي دی. د برېښنا په برخه کې زموږ د هېواد ۸۰٪ اړتياوې وارداتي برېښنا پوره کوي. د برېښنا پايې له لرې پرتو سيمو څخه تېرېږي، چې تل يې ورانکارۍ او مافيايي کړۍ ويجاړوي. «د افغانستان ډېره برېښنا اوس له ازبکستان، تاجيکستان، ترکمنستان او ايران څخه واردېږي. دغه هېوادونه د افغانستان ۸۰٪ برېښنا چمتو کوي. په افغانستان کې دننه توليد شوې برېښنا يوازې ۱۹٪ اړتياوې پوره کوي. د هېواد ٤٪ داخلي برېښنا له حرارتي فابريکو او نوو کېدونکو انرژيو څخه او پاتې د اوبو له فابريکو څخه توليدېږي.»[۱۲]

نو د دې لپاره چې د هېواد صنعت او اقتصاد وده وکړي او په تدريج سره پر وارداتي برېښنا اتکا کمه شي، بايد په کور دننه د برېښنا توليد لپاره هلې ځلې وشي. هم د اوبو پر سرچينو تمرکز وشي او هم د ډبرو سکرو له بډايو سرچينو څخه د برېښنا د توليد لپاره ګام واخيستل شي. افغانستان د برېښنا د توليد لپاره د اوبو او لمر او نورو سرچينو په ګډون سترې کاني زېرمې لري. لاندې په دې اړه د کانونو او پټروليم وزارت د سروې معلومات رااخلو:

## د افغانستان د ډبرو سکرو سرچينې

د جيولوجيکي مطالعاتو پر بنسټ په هيواد کې د ډبرو سکرو دوې سترې حوزې تثبيت شوې دي:

۱. شمال ختيځه - جنوب لويديځه حوزه

۲. ختيځه – جنوب ختيځه حوزه

شمال ختيځه - جنوب لويديځه د ډبرو سکرو حوزه د کمربند په بڼه له بدخشان څخه پيل او له تخار، کندز، بغلان، سمنګان، بلخ، سرپل، باميان، دايکندي، جوزجان او بادغيس ولايتونو څخه تېرېږي او د هرات ولايت د سبزک معدن ته يې امتداد موندلی دی. د ډبرو سکرو په ختيځه




– جنوب ختيځه حوزه کې ننګرهار، لوګر، پکتيا، پکتيکا او د کابل ختيځ اړخ شاملېږي. په دې حوزه کې تر اوسه سروې نه ده شوې، خو د کانونو او پټروليم وزارت له خوا د ترسره شوو سروې ګانو په پايله کې تر اوسه پورې تر ۸۰ زيات کاني ظواهر او د ډبرو سکرو کانونه تثبيت شوي دي. له دې جملې څخه ۱۷ ساحې يې ۸۵۰ ميليونه ټنه د ډبرو سکرو ذخيره لري. پر دې سربېره د کانونو او پټروليم وزارت د سروې ټيم او د شمال د ډبرو سکرو تصدۍ له لوري د سرپل ولايت د بلخاب ساحې د ډبرو سکرو په کانونو کې د ترسره شوو سروې ګانو پر اساس د دې ساحې د ډبرو سکاره شاخوا ۱،۵ ميليارده ټنه تثبيت شوي دي. د دې محاسبې پر اساس د هېواد د ډبرو زېرمې تر ۲ ميليارده[۱۳] ټنه اوړي، چې په نوو سروې

ګانو سره دغه اندازه نوره هم لوړیږي. د افغانستان د ډبرو سکرو اوسط کلنی تولید ۲,٤ میلیونه ټنه دی، چی ۸۸٪ یې د شمال د ډبرو سکرو تصدۍ او پاتې ۱۲٪ یې د خصوصي سکټور - قراردادیانو لخوا تولیدیږي. له دې جملې څخه ۱,۱ میلیونه ټنه صادرات او ۱,۳ میلیونه ټنه یې د کورنیو اړتیاوو لپاره مصرفیږي.[۱۴]

د هېواد برښنا د لګښت په برخه کې باید ووایو چې افغانستان هغه هېواد دی چې په نړیواله کچه له برښنا څخه خورا کمه ګټه اخلي. د برښنا شرکت د معلوماتو پر اساس افغانستان اوسمهال د کورنیو لږ تر لږه اړتیاوو لپاره ۱۵۰۰میګاواټه برښنا ته ضرورت لري. په ټولیز ډول د افغانستان د برښنا اوسنی مصرف ۸٦۰ میګاواټه دی، له دې جملی څخه ۱۷۸ میګاواټه برښنا له کورنیو سرچینو او ٦۹۰ میګاواټه له ګاونډیو هیوادونو څخه واردیږي. په داسې حال کې چې. دا اړتیا د فابریکو، پانګونې او تولیدي موسساتو په پراختیا سره مخ په زیاتېدو ده. د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو او وارداتي برښنا د بدیل لپاره باید د اړتیا وړ برښنا له کورنیو سرچینو څخه چمتو شي، چې د دې لپاره د ډبرو سکاره یوه مهمه سرچینه ده.

### له ډبرو سکرو څخه د برښنا تولید لګښت

د انرژۍ نړیوالې ادارې په خپل نوي راپور[۱۵] کې د ۲۰۲۰م کال لپاره د انرژۍ د تولید لګښت وړاندوینه کړې ده. د دغه راپور له مخې چې په ۲٤ هېوادونو کی د ۳٤۲ فابریکو له معلوماتو څخه جوړ شوی، اوسمهال له، تېلو، ګازو او ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید مصرف تر نورو سرچینو ډېر اقتصادي دی، مثلا له اټومي سرچینې څخه د یو میګاواټ ساعت برښنا مصرف ترټولو ټیټ ۳۲ امریکایي ډالر او له لمریزې سرچینې څخه ۱۲٦ ډالره چې تر نورو ډېر لوړ دی. له غیر تصفیه شوو ډبرو سکرو څخه د برښنا تولید ۸۸ امریکایي ډالر تر تصفیه شوو هغو چې ۱۱٦ امریکایي ډالر کیږي، ارزانه دی.

#### د افغانستان د برښنا اوسنی او له ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید اټکلي بیې

د افغانستان د برښنا شرکت د ازبکستان وارداتی برښنا، هر مېګاواټ ساعت په ۵۰ ډالر، د ایران وارداتی برښنا، هر مېګاواټ ساعت په ٦۰-۷۰ ډالر، ترهخېل حرراتي برښنا تولید له دستګاه څخه هر میګاواټ ساعت په ۲۰۰- ۲۵۰ ډالره، سولري برښنا هر مېګاواټ ساعت په ۷۵-۸۵ ډالره او د کجکي برښنا هر مېګاواټ ساعت په ۵۹ ډالره پیري. د حرارتي برښنا دستګاه په نصبولو او له کورنیو سرچینو څخه د ډبرو سکرو په استفادې د هر میګاواټ ساعت برښنا لګښت ۳۵- ٤۵ امریکایي ډالر اټکل شوی دی. دغه محاسبه د اسیا پرمختیایي بانک د طرحې[۱٦] پر اساس شوې ده او په دې محاسبه کې د ۳۰ کلونو لپاره د ٤۰۰ میګاواټه په ظرفیت، د ډبرو سکرو د یوه ټن بیه ۲۰ - ۲۵ امریکایي ډالره او د پروژې د عمر په اوږدو کې د یوه میګاواټ برښنا لګښت ۱,۷ میلیونه ډالر محاسبه شوی دی.

### له ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید لپاره وړاندیز شوې ساحې

د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو او وارداتي برښنا د بدیل لپاره باید د اړتیا وړ برښنا له کورنیو سرچینو څخه چمتو شي، چې د دې موخې لپاره یوه مهمه سرچینه د ډبرو سکاره کېدای شي. د ډبرو سکرو د سرچینو شته ظرفیت ته په کتو افغانستان تر ۳۵۰۰ میګاواټه پورې حرراتي برښنا تولیدولی شي. نو د کانونو او پترولیم وزارت د سونتوکو نړدېوالي، چاپېریال ساتنې، له استوګنیزو ساحو نه د فابریکو واټن، د اړتیاو وړ اوبو شتون او امنیتي شرایطو ته په کتو له ډبرو سکرو څخه د حرارتي برښنا تولید فابریکو د جوړولو لپاره لاندې پنځه ساحې د امکان سنجونې مطالعاتو لپاره وړاندیز کړې دي، چې په دغو ساحو کې له ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید مجموعي ظرفیت ۱۷۰۰ میګاواټه دی. نور جزیات یې په لاندې ډول دي:

۱. د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالی چشمه شفا د غمش تنګي سیمه، چې د ۷۵۰ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لری. دغه ساحه له مزار شریف ښار څخه ۲۰ کیلومتره او د شباشک د ډبرو سکرو مرکزي حوزې [۲۸۹ میلیونه ټنه]، دهنه تور [۹٦ میلیونه ټنه]، بلخاب [۱,۵ میلیارده ټنه] او سرآسیاب [۸۵ میلیونه ټنه] څخه له ۱۲۰ - ۱۷۰ کیلومتره واټن لري. د دې حوزې د سکرو د انتقال لپاره پوخ معیاري ترانزیتي سړک شته دی او په منځني ډول د ورځې ۱۵۰ موټره چې ۳۵ ټنه ظرفیت لري، له دې لارې د هېواد شمال بازار ته او وروسته پاکستان ته انتقالیږي. د یادونې وړ ده چې له دې ساحې څخه د شولګرې سیند تېریږي او کافي اوبه لري. همدارنګه عمومي ترانسمیشن لرونکی د برښنا سب ستیشن له دې ساحې څخه ۱۰ کیلومتره واټن لري.

۲. د هرات ولایت کرخ ولسوالي، چې ۱۵۰ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري. دغه ساحه د هرات ولایت له مرکز څخه ۵۰ کیلومتره واټن لري او د کرخ رود ته نږدې پرته ده. د چهارتاق د ډبرو سکرو کان [۸ میلیونه ټنه احتمالي ذخیره] ٦ کیلومتره، د سبزک د ډبرو سکرو کان [۱۱ میلیونه ټنه احتمالي زېرمه] ۳۵ کیلومتره او د پهلوانان د ډبرو سکرو کان [۹ میلیونه ټنه زېرمه] ۲۰ کیلومتره واټن ترې لري. دغې ساحې ته غځېدلي سړکونه پاخه دي او له څنګه یې د سلما بند د برښنا مزي هم تېریږي، ترڅو د هېواد د جنوب غربي حوزې له ترانسمیشن سره وصل شي.

**۳.** د بغلان ولایت دوشي ولسوالي، چې د ۱۰۰ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري. دغه ساحه د بغلان ولایت د مرکز په ٤۰ کیلومترۍ او د پلخمري – کندز سیند ته نږدې پرته ده او همدارنګه د تاله او برفک رود له دې سیمې تېرېږي. د تاله او برفک د ډبرو سکاره چې احتمالي ذخیره یې ۹ میلیونه ټنه ده د دې ساحې په ۳۰ کیلومترۍ ځای لري او د آشپشه د ډبرو سکاره چې احتمالي ذخیره یې ۱۱٤ میلیونه ټنه ده له دې سیمې څخه ٦٥ کیلومتره واټن لري. په دې ساحه کې د موټرو لپاره سړک شته دی، د هېواد د وارداتي برښنا مزي هم ترې تېرېږي.

**٤.** د بغلان خواجه الوان دښته، چې د ۳۰۰ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري. دغه ساحه له پلخمري څخه ۱٦ کیلومتره واټن لري او د بغلان سیند ته نږدې پرته ده. د شباشک [۲۸۹ میلیونه ټنه] او دهنه تور [۹٦ میلیونه ټنه] د ډبرو سکرو کانونه دغې ساحې ته نږدې پراته دي. د یادونې وړ ده چې دغې ساحې ته ځځېدلي سړکونه ویجاړ شوي او رغېدو ته اړتیا لري او همدارنګه په دې ساحه کې د برښنا سب سټیشن هم شته دی.

**٥.** د بامیان ولایت د کهمرد او سیغان ساحه، چې د ٤۰۰ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري. په دې ساحه کې د آشپشه کلیچ او دوآب د ډبرو سکرو کانونه پراته دي، چې ۱۱۲ میلیونه ټنه زېرمې لري. د کهمرد د اوبو سیند په دې ساحه کې د اوبو ښه سرچینه ده او پوخ سړک هم ورته نږدې دی. MCC چینایي شرکت[۱۷] مخکې په دې ساحه کې کره اکتشافي څېړنې ترسره کړې دي او نظر یې ورکړی چې په دې ساحه کې له ډبرو سکرو څخه د ٤۰۰ میګاواټه حرارتي برښنا د تولیدي فابریکې د جوړېدو امکان شته دی. د بغلان - بامیان نوی پلان شوی ترانسمیشن ګاونډیو ولایتونو ته د دې فابریکې د انرژۍ د وصل ټکی کېدای شي.[۱۸]

## له ډبرو سکرو څخه د برښنا په تولید کې د «افغان انویسټ» شرکت رول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د هېواد د اقتصادي ودې په موخه پراخ فعالیتونه او هڅې پیل کړي دي، ترڅو د افغانستان اقتصاد له بهرنیو مرستو څخه په خپلو پښو ودرېږي او د خلکو او هېواد ډېرې اقتصادي اړتیاوې په کور دننه پوره شي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په دې وروستیو کې «د افغان انویسټ» په نامه محدودالمسؤلیت شرکت پرانیست. په دغه شرکت کې په لومړي ځل د ۲٥۰ میلیونه ډالرو په ارزښت پانګونه کېږي. دغه شرکت به د انرژۍ، کانونو او کرنې په ګډون په مختلفو سکتورونو کې پانګونه کوي او تر اوسه ۱۳ ونډه وال لري، چې ښایي شمېر یې نور هم زیات شي. د دغه شرکت یوه اساسي موخه هم له ډبرو سکرو څخه د برښنا په تولید کې پانګونه ده او دا به په هېواد کې له ډبرو سکرو څخه د برښنا تولید لپاره لومړی ګام وي، چې دغه شرکت یې اخلي. په دې سره به راتلونکي کې نور پانګوال هم په دې برخه کې پانګونې ته وهڅول شي. دغه شرکت به د کارموندنې فرصتونو پر رامنځته کولو سربېره د هېواد د پرمختګ او اقتصادي ودې لپاره هم زمینه برابره کړي.

## پایله

زموږ هېواد د بډایو او سترو طبیعي زېرمو د درلودو له امله د تاریخ په اوږدو کې تل د نړۍ سترو استعماري قدرتونو ته جذابیت درلود او څو لسیزې د دوی د سیالۍ او جګړې ګرم ډګر و. اوسمهال چې الحمدلله د اشغال او استعمار لمن ورټوله شوې، د هېواد د ابادۍ په موخه د دغو ارزښتمنو زېرمو د استخراج لپاره ښه فرصت برابر شوی دی. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي ترڅو د هېواد اقتصاد له بهرنیو مرستو او سرچینو څخه پر داخلي هغو ودروي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمیسیون یوه ځانګړې کمیسیون ته دنده سپارلې ترڅو له ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید په برخه کې تخنیکي او مسلکي مطالعې او څېړنې ترسره کړي او راپور یې د ارزونې لپاره دغه کمیسیون ته وړاندې کړي. دا یو نېک او بې‌مخینې اقدام دی، چې په دغه کار سره به په اوږدمهال کې د افغانستان اتکا له وارداتي برښنا څخه پر کورنۍ هغې زیاته شي، بهرنیو هیوادونو ته به د سلګونه میلیونه ډالرو د تګ مخه ونیول شي، په هغو سیمو کې چې له ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید په موخه فابریکې جوړېږي، هېوداوالو ته به د کارموندنې فرصتونه زیات شي، د هېواد اقتصاد او صنعت به وده ورسره وکړي او سلګونه نورې ګټې.

**مأخذونه:**

۱ـ د نه نوې کېدونکې سرچینې (Non-Renewable Resource) هغه طبیعي سرچینې دي چې د مکررې استفادې په نتیجه کې بالاخره خلاصېږي یا هغه سرچینې دي چې په طبیعي ډول یې د جوړېدو سرعت د لګښت له چټکۍ سره برابر نه دی، لکه نفت، طبیعي ګاز، د ډبرو سکاره او... چې د ډېر کاربدنګ له امله خلاصېږي او د بیا جوړېدو لپاره زرګونه کلونو وخت ته اړتیا لري.

2 - BP Statistical Review of World Energy 2019

3- IEA Statistics Report Coal Information Overview 2020

4 - IEA Statistics Report Coal Information Overview 2020

5- The American Coal Foundation

٦ـ بررسی اقتصادی استفاده از زغال سنگ برای تولید برق در ایران، دوکتور اصغر اسماعیل نیا و عباس حمزه خاني ۱۳۸۹. http://ensani.ir/fa/article/۲۷۲۲٥۱

7 - https://pajhwok.com/ps/

8 - https://pa.azadiradio.com/a/27949612.html

9 - https://fdpm.gov.af/ps

۱۰- بررسی اقتصادی استفاده از زغال سنگ برای تولید برق در ایران، دوکتور اصغر اسماعیل نیا و عباس حمزه خاني ۱۳۸۹. http://ensani.ir/fa/article/۲۷۲۲٥۱

۱۱- نوې کېدونکې انرژي (Renewable energy) هغه انرژۍ ته ویل کېږي چې د تولید سرچینه یې دا ظرفیت لري چې تر خلاصېدو وروسته یې طبیعت بېرته ایجاد کړي یا په بله وینا نوې شي، چې دا ځانګړنه یې ډېر اهمیت لري، ځکه تر اوسه انسانان تر ډېره له فوسیلي یا نه نوې کېدونکو سرچینو څخه ګټه اخلي، چې بلاخره یوه ورځ خلاصېږي. یا هغه طبیعي سرچینې دي چې د انسان تر استفادې وروسته بېرته ډکېږي. دغه بهیر په طبیعي ډول او په کم وخت کې کېږي، لکه اوبه، لمریزه، بادي او د ځمکې ګرمېدو انرژي او...

12 - https://www.bbc.com/persian/afghanistan-57298337

۱۳ - طرح استفاده از ذغال سنگ برای تولید برق، وزارت معادن و پترولیم.

۱٤- د برښنا د تولید لپاره د ډبرو سکرو کارولو طرحه، د کانونو او پترولیم وزارت.

15 - IEA Projects Costs of Generating Electricity 2020

16 - ADB Afghanistan Power Sector Master Plan

۱۷ - Metallurgical Corporation of China - د چین د میتالورژۍ شرکت

۱۸ - طرح استفاده از ذغال سنگ برای تولید برق، وزارت معادن و پترولیم.

# اهمیت اقتصادی قرارداد سه میدان هوایی افغانستان با کمپنی «گاک»

سیف الدین احمدی

**مقدمه**

در جهان کنونی موارد زیادی وجود دارد که رابطه‌ای مستقیم و نزدیک بر رشد اقتصادی و ثبات سیاسی کشورها دارد. در این میان موقعیت جغرافیایی، دسترسی به آب و منابع طبیعی، داشتن افکار و ارزش‌ها و نیز پاسداری از آن نقش مهمی در ثبات و رشد اقتصادی کشورها و ملت‌ها دارا می‌باشد.

موقعیت جغرافیایی و جیوپولیتیک افغانستان، این کشور را در کانون توجه قدرت‌های منطقه و جهان قرار داده است. چنان که از لحاظ تاریخی جیوپولیتیک افغانستان، این کشور را به یکی از مهم‌ترین چهاراه‌های اتصال و تبادل تمدن‌ها، فرهنگ‌ها، تجارت و کشمکشِ قدرت های بزرگ جهان مبدل کرده است. چنانچه در فاصله‌ای زمانی نه چندان طولانی تاکنون سه قدرت بزرگ جهان به این جغرافیا لشکرکشی نموده است. جالب این‌که هیچ کدام از این قدرت‌های بزرگِ وقت نه تنها این‌که مؤفق به تسلط این جغرافیا نشده‌اند، بلکه با مبارزه و ایستادگی مردمان این سرزمین با رسوایی بیرون رانده شده‌اند.

در جهان کنونی اهمیت و نقش کشورها بگونه ای است که هر کشورِ از کشورهای جهان به دلایل مختلف و نیز ضروریات و نیازهای متفاوت به یک‌دیگر وابسته می‌باشند. این وابستگی میان کشورها در زمینه‌های مختلف قابل مشاهده است. از دیپلوماسی گرفته تا پایگاه‌های نظامی و از تجارت گرفته تا روابط فرهنگی و مردمی همه در نیاز به وابستگی کشورها نقش دارند.

اگر در گذشته دسترسی به آب و یا تسلط به خشکه اهمیت حیاتی در روابط و نفوذ کشورها داشت؛ در حال حاضر افزون بر موارد فوق، موقعیت جغرافیایی به عنوان نقطه اتصال کشورها، قاره‌ها و جهان از اهمیت به سزای برخوردار است که منافع متقابل کشورها و قدرت ها را در بر دارد. به همین خاطر قرار گرفتن افغانستان به عنوان چهارراه اتصال آسیای میانه به جنوب آسیا و نیز خاورمیانه در همسایگی اروپا از اهمیت زیادی برخودار می‌باشد.

## امضای قرارداد سه میدان هوایی افغانستان و بازتاب جهانی آن

در جغرافیایی محاط به خشکه‌ای افغانستان مرزها و میدان‌های هوایی به منظور برقراری روابط با جهان و نیز تامین رابطه سیاسی، فرهنگی و انتقال اموال مهم تجارتی یکی از نیازهای اساسی کشورها به شمار می‌رود.

در همین راستا تمدید قرارداد خدمات زمینی سه میدان هوایی افغانستان با کمپنی «گاک» مستقر در ابوظبی امارات متحده عربی به امضاء رسید که به عنوان سرخط گزارش‌های روزنامه‌های جهان قرار گرفت.

چنانچه به دنبال امضای قرارداد سه میدان هوایی -کابل، هرات و کندهار- خبرگزاری رویترز طی گزارشی آورده است: قرارداد سه میدان هوایی افغانستان با کمپنی GAAC امارات متحده عربی میان غلام جیلانی وفا معین وزارت ترانسپورت و هوانوردی افغانستان و نیز رزاق اسلم محمد عبدالرزاق، مدیر عامل کمپنی گاک به تاریخ ۲۴ ماه می ۲۰۲۲ در کابل به امضاء رسید. رویترز در ادامه می‌افزاید: گفتگوها پیرامون میدان‌های هوایی افغانستان نشان داد که کشورها چگونه در پی منافع خود به دنبال توافق با سایر کشورها اند.[۱] همچنان روزنامه واشنگتن پست در گزارشی پیرامون امضای قرارداد سه میدان هوایی افغانستان با کمپنی گاک نگاشته است: قرارداد با کمپنی GAAC Solutions تنها در مورد خدمات زمینی و لوژستیک میدان های هوایی انجام می‌شود. در حال حاضر، خطوط هوایی آریانا افغان و کام ایر تنها خطوط هوایی داخلی هستند که پروازهای بین المللی دارند. واگذاری این قرارداد پس از گذشتِ ۹ ماه از حاکمیت امارت اسلامی می تواند اولین گام در جهت از سرگیری پروازهای خارجی در افغانستان باشد.[۲]

**قرارداد خدمات زمینی (Ground handling) میدان‌های هوایی بین المللی افغانستان شامل -کابل، هرات و کندهار- می‌باشد**

قرارداد خدمات زمینی (Ground handling) میدان‌های هوایی بین المللی افغانستان شامل -کابل، هرات و کندهار- می‌باشد در حضور داشت ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، ملا هدایت الله بدری سرپرست وزارت مالیه، ملا خیرالله خیرخواه سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ، ملا حمیدالله آخندزاده سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی، رزاق اسلم مدیر عامل کمپنی «گاک» امارات متحده عربی و دیگر مقامات امارت اسلامی افغانستان به امضاء رسید.[۳] در مراسم امضای این قرارداد ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء گفت: امارت اسلامی افغانستان به هدف تقویت اقتصاد کشور تمام تلاش خود را به

خرچ می‌دهد تا با این قرارداد همه کمپنی های بین المللی هوایی در فضای امن به افغانستان پروازهای شان را آغاز نمایند. بدین گونه سطح تجارت و نیز رفت و برگشت مسافران افزایش خواهد یافت.[۴]

## چرا قرارداد میدان‌های هوایی مهم می‌باشد؟

پس از پایان اشغال و خروج نیروهای خارجی به رهبری امریکا و ناتو از افغانستان در ۳۰ ماه اگست سال ۲۰۲۱م، برای نخستین بار کنترول مطلق میدان هوایی کابل و تمام افغانستان بدست امارت اسلامی افتاد. به دنبال آن آرام آرام پروازهای هوایی با ترمیم و کنترول تمام میدان‌های هوایی آغاز گردید، تا این‌که در حال حاضر در کنار شرکت‌های داخلی د آریانا افغان هوایی شرکت و شرکت خصوصی «کام ایر» پروازهای سایر خطوط هوایی بین المللی به افغانستان و از افغانستان به سایر کشورها آغاز شده است. وزارت ترانسپورت و هوانوردی طی اعلامیه‌ای می نویسد: پروازهای غیرنظامی در میدان هوایی بین المللی کابل به طور کامل توسط رادار کنترل می‌شود.[۶] همچنان پروازهای بین المللی آغاز شده است. چنانچه پروازها میان افغانستان و قطر از سر گرفته شده است.

وزارت ترانسپورت می‌گوید: پروازهای کابل-قطر-کابل پس از چند سال تاخیر به حالت عادی برگشته است. بر اساس توافقنامه میان افغانستان و قطر، پروازهای خطوط هوایی افغانستان و قطر (ایرویز) پس از چند سال تاخیر به حالت عادی بر گشته و از این پس هر هفته آغاز و ادامه می‌یابد.[۷] همچنان پروازهای کابل-مسکو دوباره از سر گرفته شده است که در حال حاضر به صورت عادی توسط شرکت هوایی آریانا افغان صورت می‌گیرد. برعلاوه پروازهای کابل-مشهد توسط د آریانا افغان هوایی شرکت آغاز شده و قرار است هفته سه پرواز به صورت نورمال توسط این شرکت هوایی انجام شود.

همان گونه پروازهای هوایی جهت برقراری روابط با کشورها و جهان مهم است به همین شکل آغاز این روند از لحاظ اقتصادی به ویژه در وضعیت کنونی افغانستان مهم پنداشته می شود. برخی از آگاهان مسایل اقتصادی امضای قرارداد میدان‌های هوایی افغانستان را برای از سرگیری پروازهای شرکت‌های بزرگ مهم می‌دانند. طلوع نیوز در گزارشی پیرامون امضای قرارداد سه میدان هوایی افغانستان با کمپنی گاک دیدگاه‌های اقتصادی برخی از کارشناسان را اخذ کرده و آورده است: «آنعده از تاجران افغان که کالا های تجارتی شان را از طریق هوا صادر می کنند، با افزایش پروازهای خارجی زمینه صادرات بیشتر برای آن‌ها فراهم خواهد شد. در این گزارش به نقل از «عبیدالله صدرخیل» رییس شورای تاجران افغانستان در امارات متحده عربی آورده شده است: میزان داد و ستد و سرمایه‌گذاری در افغانستان با قرارداد میدان‌های هوایی افزایش می‌یابد.[۸]

در واقع امضای قرارداد میدان‌های هوایی افغانستان در کنار افزایش میزان انتقال اموال تجارتی که بدون شک به اقتصاد افغانستان تاثیرگذار خواهد بود، همچنان زمینه رفت و برگشت مسافران و نیز زمینه پروازهای خطوط هوایی شرکت‌های بین المللی را بیشتر خواهد ساخت.

## اهمیت اقتصادی میدان‌های هوایی افغانستان

همان گونه که بیان شد در عصر کنونی مرزها و میدان‌های هوایی به عنوان پل ارتباط میان کشورها و جهان از اهمیت زیاد اقتصادی برخوردار می‌باشد. در رابطه به این، در وضعیت کنونی افغانستان پنج میدان هوایی بین المللی از جمله کابل، کندهار، هرات، بلخ و خوست به عنوان اولویت نشست و برخواست پروازهای داخلی و بین المللی نقش عمده را ایفاء می‌نمایند. در این میان میدان هوایی بین المللی کابل یکی از مهم‌ترین میدان‌هایی است که پل ارتباطی و در واقع می‌توان گفت شاهرگ اقتصادی مرز هوایی افغانستان به شمار می‌رود. زیرا تردد و رفت و آمد دیپلوماتان، مقام‌های نهادها و سازمان‌های بین المللی، سیاست مداران و رهبران کشورها از همین مسیر صورت می‌گیرد. از این‌رو قرارداد میدان‌های هوایی کشور در کنار اهمیت اقتصادی از اهمیت استراتیژیک برخودار می‌باشد.

با این حال امضای قرارداد خدمات زمینی میدان هوایی افغانستان از یک سو زمینه پروازهای خطوط هوایی بین المللی را مساعد می‌سازد و از سوی دیگر در کنار افزایش فعالیت‌های نهادهای امداد رسان، ارسال کمک‌های نقدی، غذایی و ادویه‌جات همچنان روند انتقال اموال تجارتی را افزایش می‌دهد. در پیوند به این مسأله روزنامه فرانسوی «لوموند» طی گزارشی می‌نگارد: امضای قرارداد جدید با کمپنی گاک امارات متحده عربی، به خطوط هوایی بین المللی اطمینان می‌دهد که پروازها به افغانستان را از سر گیرند.[۹]

میدان‌های هوایی افغانستان در کنار استفاده داخلی به ویژه در قسمت نظامی و تامین امنیت سرتاسری کشور از لحاظ اقتصادی به دلیل رفت و برگشت مسافران، دیپلوماتان، سیاست‌مداران، مقام‌های نهادهای بین المللی به ویژه پروازهای خطوط هوایی بین المللی مهم و تاثیرگذار می‌باشد. این امر نقشی بسیار حیاتی در جغرافیای کوهستانی و محصور به خشکه و راه‌های صعب‌العبور

افغانستان دارد. در واقع محصور بودن افغانستان در خشکه و نیز وضعیت جاده‌های پر خم‌وپیچ این سرزمین اهمیت میدان‌های هوایی را چند برابر می‌کند.[10] به همین خاطر بهره برداری کامل از میدان‌های هوایی به ویژه از میدان هوایی بین المللی کابل برای احیای اقتصاد و روابط با جهان از اهمیت زیادی برخوردار است.

در زمان کنونی افزایش پروازهای خطوط هوایی شرکت‌های بین المللی و جذب آن‌ها به افغانستان نه تنها به مفاد افغانستان بلکه به مفاد خطوط هوایی سایر کشورها می‌باشد. زیرا انتقال اموال تجارتی، رفت و برگشت مسافران می‌تواند مفاد همه طرف‌ها را تامین نماید. این فرصتی است که با آمدن امارت اسلامی و تامین امنیت سرتاسری، شرایط سرمایه‌گذاری در عرصه‌های مختلف به ویژه در عرصه‌ای حمل و نقل کالاهای تجارتی و نیز انتقال مسافران از طریق خطوط هوایی داخلی و بین المللی مساعد شده است. چنانچه بارها از سوی مقام‌های بلند پایه امارت اسلامی اطمینان داده شده است که شرایط افغانستان برای سرمایه‌گذاری مساعد بوده و امارت اسلامی از همه کسانی که در عرصه های مختلف سرمایه‌گذاری می‌نمایند به گونه جدی حمایت می‌کند. چنانچه ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسم امضای قرارداد خدمات زمینی سه میدان هوایی افغانستان گفت: امارت اسلامی به هدف تقویت اقتصاد کشور تمام تلاش خود را به خرچ می‌دهد و از سرمایه گذاران داخلی و خارجی تقاضا می‌نماید که در افغانستان و در سکتورهای مختلف سرمایه گذاری نمایند. این در واقع به مفاد تمام طرف ها خواهد بود.

## نتیجه‌گیری

افغانستان در کنار داشتن سرمایه‌ای سرشار طبیعی، آب‌های شیرین، نیروی بشری جوان و از موقعیت جیوپولیتیکِ برخوردار است که از لحاظ تجارت و ترانزیت مهم پنداشته می شود. به همین خاطر با آغاز قرارداد خدمات زمینی میدان‌های هوایی افغانستان، زمینه پروازهای خطوط هوایی بین المللی مساعد خواهد شد. از سوی هم یکی مسایل مهمی که در رابطه به اهمیت قرارداد میدان‌های هوایی افغانستان با کمپنی گاک می‌تواند نقش داشته باشد مسأله سیاحت و توریزم است. این صنعت به ویژه در عصر کنونی یکی از مهم‌ترین و پردرآمدترین صنعت در جهان به شمار می‌رود. با حاکمیت امارت اسلامی و تامین امنیت سرتاسری این مسأله در روند گسترش صنعت توریزم نقش مهم دارد.

امضاء و اجرای قرارداد خدمات زمینی میدان های هوایی افغانستان از یک سو در روند رشد اقتصادی تاثیرگذار خواهد بود و از سوی دیگر منجر به افزایش روابط سیاسی، تجارتی، مردمی، رفت و برگشت مسافران و نیز نمایندگان سیاسی و نمایندگان نهادهای بین المللی خواهد شد. در این میان رفت و برگشت افغان‌ها به منظور کار و تجارت به کشورهای همسایه، منطقه و جهان این مسأله در روند رشد اقتصادی تاثیری زیاد خواهد داشت.

با آغاز پروازهای خطوط هوایی بین المللی به افغانستان توجه به سرمایه‌گذاری بالای پروژه‌های بزرگ اقتصادی از سوی دونرها و تمویل‌کنندگان خارجی بیشتر شده و در کنار آن اقلام صادراتی افغانستان به بازارهای جهان به ویژه به کشورهای اروپایی افزایش خواهد یافت. در این مقطع حساس توجه به سرمایه‌گذاری در این عرصه می‌تواند بسیاری از فرصت‌های اقتصادی دیگر را مساعد سازد.

**امضاء و اجرای قرارداد خدمات زمینی میدان‌های هوایی افغانستان از یک سو در روند رشد اقتصادی تاثیرگذار خواهد بود و از سوی دیگر منجر به افزایش روابط سیاسی، تجارتی، مردمی، رفت و برگشت مسافران و نیز نمایندگان سیاسی و نمایندگان نهادهای بین المللی خواهد شد.**


منابع:

1. گزارشی از روزنامه رویترز:
https://www.reuters.com/business/aerospace-defense/taliban-sign-agreement-with-uae-cooperate-ai/rport-operations-2022-05-24

2. گزارشی از روزنامه واشنگتن پست:
https://www.washingtonpost.com/world/2022/05/2/4/afghanistan-uae-airports-kabul

3. تویتر رسمی معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان:
https://twitter.com/HabibiSamangani/status/1529008491293249536?s=20&t=rA20QU_ZjcozBoG3kv0MNw

4. صفحه تویتر رسمی معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء:
https://twitter.com/fdpm_afg/status/1529059502783447041?s=21&t=15bxph6obIQSS_UELALDTQ

5. صفحه تویتر رسمی وزارت ترانسپورت و هوانوردی:
https://twitter.com/DChInd/status/1532364904384057345?s=20&t=i4t5uZLoIhnOpMc2Z4uvIA

6. همان منبع با روز و تاریخ متفاوت:
https://twitter.com/DChInd/status/153203508885834956 9?s=20&t=rA20QU_ZjcozBoG3kv0MNw

7. همان منبع با روز و تاریخ متفاوت:
https://twitter.com/DChInd/status/1488748789691203584?s=20&t=rA20QU_ZjcozBoG3kv0MNw

8. گزارش کتبی و تصویری از تلویزیون طلوع نیوز:
https://tolonews.com/fa/business-178310

9. گزارشی از خبرگزاری لوموند فرانسه:
https://www.lemonde.fr/en/international/article/2022/05/24/taliban-announces-deal-with-uae-firm-to-manage-airports_5984503_4.html

10. گزارش تحلیلی از خبرگزاری اناتولی ترکیه:
https://bit.ly/3IIqCX4

# د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې د اقتصادي کمېسیون لاسته‌راوړنې او وړاندیزونه

امان الله حنيفي

**مقدمه**

له هغې ورځې راپدېخوا چې د امیرالمؤمنین د حکم پر اساس د اقتصادي معاونیت او اقتصادي کمېسیون مسؤلیت ملا عبدالغني برادر اخوند ته سپارل شوی، ټوله هڅه یې دا ده چې د سوداګرو او پانګوالو ملاتړ وشي، ستونزې یې حل شي او هغوی ته د کار کولو لا ښه زمینه برابره شي. دغه هڅې لا روانې دي او ټول کوښښ دا دی چې څنګه کولی شو یو پر ځان بسیا افغانستان ولرو. له نېکه‌مرغه اقتصادي کمېسیون په دغه برخه کې ډېرې ښې لاسته راوړنې لري.

## الف: د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې

### ۱ـ پر خامو موادو مالیه کمه شوې

د اقتصادي کمېسیون د فعالیت په پیل سره د سوداګرو او پانګوالو پر ټولو هغو خامو موادو مالیه کمه شوې ده، چې دوی یې له بهر څخه راوړي. له تېرو څو کلونو راهیسې خصوصي سکتور په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه کړې، چې له شک پرته لسګونو زرو کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې او د هېواد په اقتصادي بیارغونه کې یې ښه رول لوبولی دی. د دې لپاره چې د دغه سکتور لا ښه ملاتړ وشي او د افغانستان اقتصاد پر خپلو پښو ودرېږي، د ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د خصوصي سکتور له لوري له بهر څخه د خامو موادو پر راوړلو مالیه کمه کړه.

### ۲. بهر ته د پیسو TT کولو ستونزه حل شوې

د پانګوالو او سوداګرو د پیسو د لېږد هغه ستونزه هم حل شوې ده چې د خامو موادو د رانیولو پر مهال ورسره مخ وو. اوسمهال هر سوداګر کولی شي په آسانۍ سره د خامو موادو د رانیولو لپاره بهر ته پیسې TT کړي.

د امریکا له لوري د افغانستان پر بانکي سیستم د محدودیتونو له وضعه کولو وروسته سوداګرو او پانګوالو نشو کولی چې د موادو او اجناسو د رانیولو لپاره بهر ته پیسې TT کړي. دغه ستونزه هغه وخت لا هم په بشپړ ډول نه وه حل شوې کله چې د امریکا خزانې وزارت د افغانستان پر بانکي سیستم ځینې محدودیتونه لرې کړل. خو د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون او افغانستان بانک د ګډو هڅو په نتیجه کې دغه ستونزه حل شوه.

### ۳. صنعتکارانو ته برېښنا زیاته شوې

د اوسپنې ویلې کولو او تولیدي فابریکو د برېښنا ستونزه هم حل شوې ده. له دې مخکې د دغو فابریکو مسؤلینو شکایت درلود چې دوی کمه برېښنا لري او دې چارې یې کارونه ټکني کړې دي. خو له نېکه‌مرغه د ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون له برېښنا شرکت سره په همغږۍ د اوسپنې ویلې کوونکو فابریکو ته برېښنا ورزیاته کړې ده.



عصمت‌الله وردګ چې په هرات ولایت کې د «فولاد» په نامه د اوسپنې ویلې کولو فابریکې رئیس دی وایي، له دې مخکې دوی په ۲٤ ساعتونو کې یوازې ۸ ساعته برېښنا درلوده چې د دوی لپاره یې کفایت نه کاوه. خو له نېکه‌مرغه اوسمهال د اقتصادي کمېسیون د هدایت پر اساس د افغانستان برېښنا شرکت ورته برېښنا زیاته کړې، چې د دوی تولیدات هم ورسره زیات شوي دي.

### ٤. د سوداګرو او پانګوالو امنیت تأمین شوی

له امنیتي ارګانونو سره په همغږۍ د ټولو هغو سوداګرو او پانګوالو امنیت تأمین شوی دی، چې دلته په افغانستان کې اوسېږي او فعالیت کوي. هغه سوداګر د اختطاف‌ګرو له منګولو خوشي شوي چې د پیسو اخیستلو په موخه یې له خپلو ځایونو وړي وو.

دغه پېښې په وار وار تکرار شوې او تر ډېره د تېرې اداري فاسد امنیتي چارواکي پکې ښکېل دي. دوی د پیسو په مقابل کې د ډېریو سوداګرو او پانګوالو د کورنۍ غړي او ان خپلوان هم وړل شوي، چې له بده‌مرغه ځینې یې وژلي هم دي.

خو د اسلامي امارت په راتګ سره الحمدالله د دغه ډول ناوړه پېښو مخه نیول شوې او ان ډېرى هغه کسان چې له اختطاف‌ګرو سره په شخصي بندي‌خانو کې بند ساتل شوي وو، د اقتصادي کمېسیون له لوري له امنیتي ارګانونو سره د موضوع تر شریکولو وروسته یې ډېرى خوشي شوي دي.

### ۵. د افغاني محصولاتو لپاره نندارتونونه جوړ شوي

د سوداګرو د تشویق په هدف د هغوی د محصولاتو لپاره څو نندارتونونه جوړ شوي دي. په دغو نندارتونو کې افغاني محصولات نندارې ته وړاندې شوي او له ټولو هیوادوالو غوښتل شوي چې د بهرنیو محصولاتو پر ځای کورني محصولات وکاروي.

د اقتصادي کمېسیون د هڅو په پایله کې بهر ته د افغاني محصولاتو پر صادراتو مالیه صفر شوې، چې سوداګر ترې ډېره خوښي څرګندوي. اوسمهال ځینې فابریکې بهر ته صادرات لري چې ښې بېلګې یې ځینو ګاونډیو هېوادونو ته ګول سیخ، سپین کاغذ او نـورو تـوکو یـادونه کولی شو.

### ۶. د سوداګرو د پاسپورټ او ویزې ستونزه حل شوې

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د افغان سوداګرو د ویزو او پاسپورټ اخیستلو ستونزه هم حل کړې ده. مخکې سوداګرو له دې ستونزې شکایت کاوه او له ډېرو ستړیاوو سره سره به هم په وخت ورته نه پاسپورټ ورکول کېده او نه هم ویزه. خو اوس په ډېرې اسانۍ سره کولی شي هم پاسپورټ او هم ویزه.

### ۷. په ادارو کې بیروکراسي ختمه شوې

همدارنګه د اقتصادي کمېسیون له لوري په ادارو کې د سوداګرو او پانګوالو پر مخ د بیروکراسۍ، جواز اخیستلو، د جواز د تمدید، مالیې تسلیمولو او نورې ستونزې ختمې شوې دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ د دغو مسایلو د طی‌مراحل لپاره د یوه ګډ ډسک پر رامنځته کولو هم کار روان دی، چې په جوړېدو سره به یې ټول طی مراحل په یوه اداره کې په یو وخت ترسره کېږي.

### ۸. افغان انویسټ محدودالمسؤلیت شرکت پرانیستل شو

د افغان سوداګرو لپاره د افغان انویسټ په نامه سهامي شرکت جوړ شو. اقتصادي کمېسیون، صنعت او سوداګرۍ وزارت، د صنعت او معدن او همدارنګه د سوداګرۍ او پانګونې خونې په ګډه له افغان سوداګرو او پانګوالو سره د سهامي شرکتونو پر رامنځته کولو کار کوي، چې په لومړي سر کې یې د ۲۵۰ میلیونو ډالرو په ابتدایي پانګونې سره د افغان انویسټ په نامه شرکت پرانیست.

د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې د سهامي شرکتونو ارزښت ته په کتو، د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال په مشرۍ اقتصاي کمېسیون لېواله دی چې ډېر ژر په افغانستان کې افغان انویسټ محدودالمسؤلیت شرکت ته ورته نور شرکتونه هم پرانیزي. ځکه د افغانستان اوسنی وضعیت د دغو شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره یو ښه فرصت دی.

له افغان سوداګرو او پانګوالو سره د لا ښې همغږۍ رامنځته کولو، د ستونزو د ژر حل، امنیت او کاري زمینې برابرولو په موخه پر کور دننه سربېره په بهرنیو هیوادونو کې هم په وار وار مجالس نیول شوي دي.

ملا عبدالغني برادر اخوند متحده عربي اماراتو ته د خپل سفر پر مهال په ابوظبۍ ښار کې له ټولو افغان سوداګرو سره وکتل. په افغانستان کې د پانګونې په اړه یې د هغوی غوښتنې واورېدې، د ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ او سوداګرو هم د اسلامي امارت له ملاتړ خوښي څرګنده کړه. هغوی ټولو وویل چې دوی افغانستان ته ځي او په بېلابېلو برخو کې پانګونه کوي.

په فردي ډول هم له سوداګرو او پانګوالو سره مجالس شوي او د هغوی ستونزې اوربدل شوې چې مناسبه حل لاره ورته لټول شوې ده.

په راتلونکي کې هم ټوله هڅه دا ده چې د سوداګرو او پانګوالو امنیت تأمین شي، ستونزو ته یې ژر حل ولټول شي او په هره برخه کې چې دوی غواړي، د کار زمینه ورته برابره شي. اقتصادي کمېسیون هڅه کوي څو هغو پروژو ته لومړیتوب ورکړي چې هغه د افغانستان په اقتصادي بیارغونه کې مؤثرې تمامېدلی شي.

د اقتصادي کمېسیون د هڅو په نتیجه کې له نېکه‌مرغه ډېرې هغه فابریکې چې فعالیت یې بند شوی و، بېرته یې پر فعالیت پیل کړی او لسګونو خلکو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.

### ب: د کانونو په برخه کې پانګونه

پر سوداګرۍ، پانګونې او صنعت سربېره اقتصادي کمېسیون د کانونو استخراج او پروسس ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده. افغانستان د سیمې هېوادونو په کچه د کانونو له پلوه یو غني هېواد دی او تر اوسه یې ډېرى کانونه په خپل حال پاتې دي. دغه کانونه د دولت خزانې ته د عوایدو د جمع کېدو یوه تر ټولو ښه لاره ده.

د ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون له کانونو او پترولیم وزارت سره په ګډه کوښښ کوي، چې دغه کانونه په قانوني ډول د بهرنیو متخصصینو او افغانستان خصوصي سکتور په ګډه همکارۍ استخراج او همدلته په کور دننه پروسس کړي، چې له نېکه مرغه په دغه برخه کې هم لاسته راوړنې لري. اقتصادي کمېسیون

کوښښ کوي چې په دغو برخو کې افغان کادرونه وروزي او هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي.

### ۱ـ یوشمېر کانونه په ښو شرایطو په قرارداد ورکړل شوي

له هغې ورځې چې اقتصادي کمېسیون فعالیت پیل کړی دی، ډېری کانونه په ډېرو ښو شرایطو د استخراج په موخه په قرارداد ورکړل شوي دي، چې ښه بېلګه یې د سمنګان او بامیان د ډېرو سکاره دي. له دې لارې په میاشتني ډول د دولت خزانې ته په میلیونونو افغانۍ عواید راځي.

له دې مخکې د تېرې ادارې له لوري دغه سکاره په ډېر ټیټ قېمت په استخراج ورکړل شوي وو او د عوایدو د جمع کېدو پر مهال یې هم فساد کېده چې له نېکهمرغه اوسمهال دغه ستونزې له منځه تللې دي.

### ۲. بهر ته د قېمتي منرالونو د قاچاق مخه نیول شوې

د اقتصادي کمېسیون او کانونو وزارت د ښې همغږۍ په نتیجه کې بهر ته د کاني موادو او قېمتي منرالونو د قاچاق او خام لېږد مخه په بشپړ ډول نیول شوې ده. له دې مخکې ډېری قېمتي ډبرې، منرالونه او طبعي منابع چې ډېر ارزښت لري، د زورواکو او مافیایي کړیو له لوري بهر ته قاچاق کېدل.

### ۳. د تېرې ادارې له لوري شوي قراردادونه ارزول شوي

د اقتصادي کمېسیون له لوري د هغو کانونو د استخراج قراردادونه بیا ارزول شوي چې د تعدیل او بیاکتنې اړتیا یې لیدل شوې. د کابل تېرې ادارې د فساد لپاره ځینې کانونه په ډېر ټیټ قېمت په قرارداد ورکړي دي، چې د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پترولیم وزارت له لوري یې قراردادونه تعدیل شوي او یا هم فسخه شوي دي.

### ٤. د غیر قانوني کېندنو مخنیوی شوی

د اقتصادي کمېسیون د هڅو په نتیجه کې د کانونو امنیت ټینګ شوی او د ډېریو غیر قانوني کېندنو مخنیوی شوی دی. له دې مخکې پر ځینو کانونو مافیا او زورواکي حاکم وو چې په غیر قانوني ډول یې کېندل.

د دغو غیر قانوني کېندنو له امله به ځینې وخت د خلکو تر منځ شخړې او حتی وسلهوالې نښتې هم کېدلې چې ځینو کسانو ته پکې مرګ‌ژوبله اوښته. خو اوسمهال د اسلامي امارت د امنیتي ارګانونو له لوري د ټولو کانونو امنیت نیول شوی.

### ٥. کانونه د استخراج په موخه ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کېږي

له پوره تخنیکي او مسلکي بحثونو، څېړنو او ارزونو وروسته کانونه د استخراج په موخه ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کېږي. د داوطلبۍ پر مهال هغه شرکت ته لومړیتوب ورکول کېږي چې په فني ډول او ښو شرایطو استخراج او پروسس کولی شي.

تر دې مخکې د کابل تېرې ادارې کان داوطلبۍ ته نه وړاندې کاوه، بلکې د خپلوۍ، شخصي ګټو او فساد کولو لپاره به یې له مشخصو شرکتونو او کمپنیو سره قرارداد کاوه، چې دې چارې خصوصي سکتور ته سخته ضربه ورکړې وه.

اقتصادي کمېسیون د لا ښه شفافیت په موخه مالیې وزارت، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او د افغانستان بانک مسلکي استازو ته هدایت کړی، چې له کانونو او پترولیم وزارت سره "د کانونو د استخراج قانون" باندې په ګډه له سره غور وکړي.

د دغه قانون پر اساس به له هغو شرکتونو سره تړون کېږي، چې پر مالي وړتیا سربېره د استخراج ظرفیت هم ولري.

په راتلونکي کې د اقتصادي کمېسیون او کانونو وزارت ګډه هڅه دا ده چې لومړی باید له امنیتي ارګانونو سره په همغږۍ د کانونو امنیت وساتل شي، د غیر قانوني کېندنو مخنیوی وشي او په فني ډول د کانونو د استخراج او پروسس لپاره افغان کادرونه په کور دننه او بهر کې و روزل شي.

## وړاندیزونه

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د هېواد د اقتصادي بیارغونې، د بېکارۍ کچې له منځه وړلو، د پر ځان بسیا کېدلو او یو باثباته اقتصادي سیستم رامنځته کولو په موخه په افغانستان کې د پانګونې په اړه سوداګرو او پانګوالو ته لاندې وړاندیزونه کوي:

۱ـ پانګوالو ته د اوږد مهال لپاره د دولتي ځمکو ورکول؛

۲. د حکومت او خصوصي سکټور تر منځ د ګډ کار زمینې برابرول؛

۳. په اساسي ډول د برېښنا ستونزو حل کول؛

٤. افغاني تولیداتو ته د بهرني مارکیټ پیدا کول؛

٥. د ترانزیټ په برخه کې د شته ستونزو د حل لپاره د کوټلو ګامونو اخیستل؛

٦. دا چې افغانستان د جغرافیوي موقعیت له مخې په وچه کې راګیر هېواد دی او بهر ته کومه لار نه لري، اقتصادي کمېسیون کوښښ کوي چې له ګاونډیو هېوادونو سره بهر ته د لارې پیدا کولو لپاره رغنده خبرې وکړي؛

۷. په چابهار بندر کې د فعالیتونو د زیاتوالي او په دغه بندر کې د وعده شوې پانګونې لپاره د هند+ایران+افغانستان د ګډو همکاریو زیاتول؛

۸. د افغانستان د سوداګریزو بندرونو د عصري کولو په موخه له نړیوالو شرکتونو سره تفاهم کول؛

۹. په بانکي سیستم کې په مکمل ډول د شته ستونزو حل کېدل.

# د قوش تیپې کانال اقتصادي اهمیت او وروستي کاري پرمختګونه

احسان الله ذهين

اوبه د ژوند ماده ده، که بې‌پروايي ورسره وشي، د هر ساکښ ژوند ته ګواښ پېښوي. دغه راز يوه اقتصادي ماده هم ده او په اوسنۍ نړۍ کې د يوه هېواد د طبيعي سرچينو، ځمکې، ځنګل، کانونو او ژويو پر خلاف د اوبو اغېز په سياسي پولو کې نه محدودېږي، بلکې مرزونه ماتوي او يوه غټه جغرافيه تر خپل اغېز لاندې راولي لکه ځينې سيندونه چې په څو هېوادونو کې جريان مومي. د انسان، حيوان او نبات ژوند او په ټوله کې ابادۍ او تمدن له اوبو سره غوټه خوړلې ده او له اوبو پرته نه تمدن رامنځته کېدی شي او نه صنعت او توليد. له همدې امله چېرته چې خوږې اوبه شته، هلته د تمدن او متمدن انسان اثار ليدل کېږي. انسانانو تل د اوبو او سيندونو تر څنګ تمدنونه جوړ کړي او اثار ترې پاتې شوي دي. چېرته چې اوبه وچې شي، هلته د ژوند ربښه وچېږي. د اوبو اقتصادي اهميت په ۱۹۹۹م کال کې په ډبلين نړيوال کنفرانس کې هم په نړيواله کچه مطرح شو او دغه موضوع د ۲۱مې پېړۍ د ستراتيژيکو او حياتي مسايلو په اجنډا کې شامله شوه.

«په اوسني عصر کې پاکې او خوږې اوبه د نورو قيمتي مادو او ذخايرو په څېر لوړ قيمت او ارزښت لري، چې دولتونه هڅه کوي يا خپلې اوبه مهار کړي او يا هم د نورو دولتونو له اوبو څخه چې ورته راځي، زياته استفاده وکړي.»[1]

پخوا به جګړې د جغرافيو، هېوادونو او ښارونو د نيولو پر سر وې، خو اوس پوهان ګومان کوي چې راتلونکې ډېرې جګړې ښايي د اوبو د سرچينو پر کنټرول وي. همدارنګه په نړيوالو اړيکو کې د دولتونو تر منځ د وسله‌والو نښتو له مستقيمو لاملونو څخه يو يې خوږې اوبه دي. د اوبو مسئله نن سبا د هېوادونو تر منځ يوه خورا مهمه او کړکېچنه موضوع ده، چې تل د هېوادونو تر منځ شخړې او کشمکشونه راپاروي.

د اوبو پر سر شخړې کابو په ټوله نړۍ کې شته، ځکه په نړۍ کې شاوخوا ۲۵۰ داسې سيندونه شته چې له څو هېوادونو تېرېږي.

په اوسنيو شرايطو کې د اوبو پر سر کشمکش ورځ په ورځ مخ پر زياتېدو دی: «همدا اوس د پاکستان او هند تر منځ د اندوس پر سيند او همدارنګه د چين او نيپال، هندوستان او بنګله ديش تر منځ پر هغو سيندونو کړکېچ دی چې د هماليا له غرونو تېرېږي او په دغو هېوادونو کې بهېږي. دا سيندونه ۵۰۰ ميليونه خلکو ته اوبه چمتو کوي. په همدې ډول د قرغېزستان، قزاقستان او تاجيکستان تر منځ هم د آمو او ارل سيندونو پر سر جنجال دی، دې ته ورته يو شمېر نور هيوادونه لکه د سوريې او عراق تر منځ د تاجرس سيند، د امريکا او مکسيکو، ارجنټاين او يورګوای، په افريقا کښې د زمبابوې، موزنبيک، بوتوانيا، چوبا، زيمبيا، د سينيګال او نايجريا ترمنځ او همداسې د نړۍ په نورو سيمو کې د اوبو پر سر شخړې شتون لري.»[2]

کانديد اکاډميسن محمد اعظم سيساني په خپله يوه رساله کې د اوبو د کمښت ستونزو په اړه د معاصر امريکايي پوه «مايکل.ټي.کلار» له قوله ليکي: «د اوبو شرايط په نړۍ ډېر د تمې وړ نه دي. که هغه اوبه چې موږ يې له واورې او باران څخه ترلاسه کوو، نوې نه شي؛ د بدلېدو (تعويض) وړ اندازه محدودېږي. اوسمهال موږ د دغو اوبو نيمايي برخه د څښاک، مينځلو، د خوړو توليد، صنعت، ترانسپورټ او نورو لپاره کاروو او د اضافي اوبو د عرضې اړتيا هره ورځ زياتېږي. اوسمهال د منځني ختيځ ډېرې سيمې د اوبو له اوږدمهاله کمښت سره مخ دي او په دغو سيمو کې پراته هېوادونه اټکل کوي چې په راتلونکو ۲۵ کلونو کې چې کله د نړۍ نفوس زياتېږي او خلک ډېر په ښاري سيمو کې ژوند غوره کوي، د اوبو د کمښت له امله به د دوی ستونزې دوه برابره شي.»[3]

خو افغانستان د نړۍ هغه هيواد دی چې سيندونه يې له خپلې خاورې سرچينه اخلي، خو اوبه يې تر ډېره نورو هيوادونو ته بهېږي، لکه څنګه چې کشمير د خپلو اوبو د سرچينو په موخه د جګړې او کشمکش ميدان ګرځېدلی دی، افغانستان د اوبو له کبله يو غني هيواد دی چې د ځمکې پر سر د اوبو کلنی جريان يې ۵۷ ميليارد متر مکعبو ته رسېږي او زموږ د هېواد ټولې اوبه په کال کې ۷۵ ميلیارده مترمعکبه دي، چې ۵۷ ميليارد مترمعکبه اوبه د ځمکې پر سر او ۱۸ ميليارد مترمعکبه يې تر ځمکې لاندې دي. له نېکه مرغه چې داوبو ډېره زياته برخه يعنې تر نوې سلنه پورته ټولې يې خوږې اوبه دي. د خوږو اوبو د اندازې له پلوه کيدای شي افغانستان په نړۍ کې ساری ونه لري، خو په خواشينۍ سره بايد ووايو چې د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان د روانو اوبو له سرچينو څخه د داخلي اړتياوو پوره کولو لپاره په هېواد کې ګټه نه ده اخيستل شوې او ګاونډيو هېوادونو ته يې جريان موندلی دی.

په پسرلي کې د بارانونو له امله ويجاړوونکي سيلابونه استوګنځايونو او سيندونو ته د نږدې ځمکو د تخريب لامل کېږي، خو په دوبي او مني کې چې بارانونه نه وي يا کم وي، د واورې زېرمې او يخچالونه هم ويلي کېږي، ډېرې سيمې د اوبو د کمښت له بحران سره مخ کېږي. زموږ هېواد د ځمکې د سطحې له ټولو اوبو څخه يوازې ۲۰ ميلیارده مترمعکبه اوبو څخه په هېواد کې ګټه اخيستل کېږي او پاتې نورې ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي. نو پر همدغه اساس دولت ته د اوبو مديريت خورا مهم دی، ځکه له يوې خوا نړۍ ورځ په ورځ د اوبو له کمښت سره مخ

کېږي او له بلې خوا د افغانستان ابادي او پر ځان بسیا کېدل په اوبو پورې تړلي دي. په افغانستان کې د اوبو سالم مدیریت دغه هېواد پر یوه قوي کرنیز، صنعتي او صادراتي هیواد بدلولی شي. د اوبو د مدیریت په برخه کې به د قوش‌تیپې کانال ډېر ستر رول ولري د کرنې او هېواد د اقتصادي ودې لپاره به ډېر ګټور تمام شي.

د قوش‌تیپې کانال له آمو سیند څخه د بلخ ولایت د کلدارې ولسوالۍ اړوند سیمه کې سرچینه اخلي؛ د مزار شریف له حیرتانو او د دولت اباد له نیمه کرنیزو ځمکو تېرېږي، د جوزجان آقچې ولسوالۍ او د فاریاب د اندخوی ولسوالۍ دښتو ته رسېږي. دا کانال به کرنیزې ځمکې اوبوي او تر لاندې ځمکو اوبه غني کوي.

د قوش‌تیپې کانال پروژه د روان کال د حمل میاشتې په لسمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند په هڅو او مشرۍ پرانیستل شوه.

دغه پروژه د هېواد په کچه یوه بنسټیزه پروژه ده او تطبیق یې خورا مهم دی؛ ځکه په پلي کېدو یې د هېواد کرنیز تولیدات زیاتېږي، شاړې ځمکې خړوبوي، د هېواد اوبه تنظیموي او ډېرو خلکو ته په مستقیم او نامستقیم ډول د کار زمینه برابروي. افغانستان یو زراعتي هېواد دی او د خلکو ژوند او اقتصاد یې تر ډېره پر کرنه ولاړ دی، د دغه کانال جوړول به د خلکو د ژوند کچې لوړولو، د بېوزلۍ کمولو، د خلکو هوساینې، امنیت، سوداګرۍ او نورو برخو کې د پام وړ رول ولوبوي. دا د سیمې په کچه یو لوی کانال دی چې د افغانستان په شمال کې به کابو ۵۸۰۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبه کړي.

## د دغه کانال ټول اوږدوالی ۲۸۵ کیلو متره دی او د جوړولو کار یې په دریو فازونو وېشل شوی:

**لومړی فاز** یې ۱۰۸ کیلو متره دی چې له آمو سینده پیل او د بلخ ولایت تر دولت اباد ولسوالۍ رسېږي **چې ۴۳ کیلو متره** برخه یې تر کار لاندې ده؛

**دویم فاز** یې **۱۰۷ کیلو متره** اوږدوالی لري چې د بلخ ولایت له دولت آباد ولسوالۍ پیل، د جوزجان له اقچې ولسوالۍ تېرېږي او د فاریاب په اندخوی ولسوالۍ کې پای ته رسېږي؛

**او په درېیم** فاز کې یې د فرعي کانالونو وېش شاملېږي.

د قوش تیپې کانال **اوسط عرض ۱۰۰ متره** دی، د کف/ښخ عرض یې ۸۵ متره او د ډیزاین له مخې په کانال کې د **اوبو لوړوالی ۶,۵ متره دی.**

د ۴۳ کیلومتره کانال لپاره ټاکل شوی وخت یو کال او د پاتې ۲۴۲ کیلومتره پروژې لپاره پنځه کاله وخت په پام کې نیول شوی دی.

## د دغه کانال نور تخنیکي جزیات:

- **د کیندلو حجم: ۱۲۷,۸۰۸,۲۶۱ مترمکعب**
- **د ډکولو او خاورې د متراکمولو حجم: ۱,۶۵۱,۲۵۶,۶۸ مترمکعب**
- **پلان شوې ځمکه چې اوبوي یې: ۵۸۰,۰۰۰ هکتار**
- **په کانال کې د اوبو د جریان ظرفیت: ۶۶۸,۴ متر مکعب په ثانیه کې**



# د قوش‌تیپې کانال

## د ماشینرۍ لنډ راپور

**د ملي پراختیا شرکت د معلوماتو پر اساس اوسمهال د دې کانال د کیندنې چارې په څلوېښت نقطو کې په ۲۶ کیلو متره فاصلې سره د قراردادي شرکتونو له لورې په ډېرې چټکۍ روانې دي، چې له ۱۱۵۰ څخه ډېره ماشینري پکې عملاً کار کوي او په پام کې ده، چې شمېر یې ۲۸۰۰ ته ورسېږي. د دې ماشینرۍ د کار او سم مدیریت په پایله کې په تېرو دوو میاشتو کې شپږ میلیونه او شپږ سوه نهه پنځوس زره او اووه سوه (۶۶۵۹۷۰۰)۵ مترمکعبه ځمکه کېندل شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې د ترسره شوو کارونو وړاندوینه په څلورو میاشتو کې شوې وه. په دې ماشینرۍ کې سکواټور، لوډر، ګریډر، بلډوزر، ډمټرک، اوبه پاشونکي ټانکر او... شامل دي.**

## د اوبو د مدیریت اړتیا او اهمیت

د کرنې او اوبو ستونزو هوارې ته د دولتونو نه پاملرنه، د کرنیزو محصولاتو واردول او د دغو محصولاتو د بیو بدلون، په کرنه کې له سنتي او دودیزو لارو چارو څخه ګټه اخیستنه، چې د تولیداتو لګښت یې لوړ کړی او د وارداتي محصولاتو پر وړاندې یې د هېواد د محصولاتو سیالي کمه کړې، د بېلابېلو ستونزو او عواملو پر اساس له کرنې سره د خلکو نه لېوالتیا دا هغه ستونزې دي، چې په هېواد یې د کرنې وده ټکنۍ کړې ده. نو د دې لپاره چې خلکو ته له کرنې څخه ترلاسه کېدونکي عواید مناسب او په زړه پورې وي، د دولت قوي ملاتړ ته اړتیا ده؛ چې په دې کې د اوبو مدیریت او کرنیزو توکو ته سم بازار موندل هم شاملېږي.

افغانستان د تېرو څو لسیزو جګړو له امله ددې مجال پیدا نه کړ، چې خپلې اوبه مدیریت کړې او د خوراکي توکو او انرژۍ له مخې پر خپل ځان متکي شي. اوس چې الحمدلله جګړه ختمه شوې ده، دولت ته د اوبو مدیریت یوه مهمه موضوع ده. له نېکه مرغه افغانستان د ۵۷ میلیارد متر مکعبه کلنیو سطحي اوبو او ۱۸ میلیارد متر مکعب تر ځمکه لاندې خوړو اوبو ظرفیت لري. مګر بنسټیزه ستونزه دا ده چې له ۵۷ میلیارد متر مکعب سطحي اوبو څخه تر دې مهاله یوازې ۲۰- ۳۰ سلنه استفاده کېږي او پاتې نورې اوبه زمونږ ګاونډیو هېوادونو ته له کوم امتیاز پرته بهېږي. همداراز تر ځمکه لاندې خوړې اوبه چې یوه ارزښتمنه شتمني ده، اوسمهال له بده مرغه د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره کارول کېږي، چې دا په اوږدمهاله توګه یو سخت او نه جبرانېدونکی ناورین زېږوي.





نن سبا د حکومتونو لپاره تر ټولو جدي موضوع پر خوراکي توکو او انرژۍ تمرکز دی، یعني یو هېواد باید ددې وړتیا ولري چې په کور دننه د غلو او خوراکي توکو له اړخه پر ځان بسیا وي او نورو هېوادونو ته اړ نه شي او یا که اړ کېږي، نو دغه اړتیا خورا کمه وي. همداراز د انرژۍ او برېښنا په برخه کې هم باید پر خپل ځان بسیا وي. مگر موږ په دې دواړو برخو کې پر گاونډیو هېوادونو اتکا کوو او د خپلې اړتیا وړ غذایي توکي او برېښنا له گاونډیو هېوادونو څخه تر لاسه کوو. همدا زموږ د کمزورۍ ټکي دي.

بله اساسي خبره دا ده چې د افغانستان اقلیم داسې دی، چې په هرو ۲۰ یا ۳۰ کلونو کې د وچکالۍ یو دوره راځي او د وچکالۍ دغه دوره له دوو تر پنځو کلونو پورې دوام کوي. نو افغانستان باید دومره اوبه په خپلو زېرمو (بندونو) کې ولري، چې تر پنځو کلونو پورې وچې نه شي. دغه زېرمې باید ددې وړتیا ولري چې پنځه کاله هم ټولې کرنیزې ځمکې اوبه کړي او هم ټولو وگړو ته د څښاک اوبه تامین کړي. ځکه که داسې ونه کړي، هم به هېواد د خوراکي توکو له سخت کمښت او هم به د داخلي بې ځایه کېدنې او کډوالۍ ناورین سره مخ وي.[6]

که څه هم افغانستان یو غرنی هېواد دی چې کرنیزه ځمکه یې کمه ده او د هېواد د ډېرو سیمو هوا گرمه او وچه ده، د اورښت کچه یې کمه او همداراز تر اورښت یې د تبخیر کچه زیاته ده. په ډېرو سیمو کې د سیندونو ترڅنگ مېشت خلک د کبانو او مرغانو د ښکار، کرنې او څارویو د روزلو له لارې خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کوي. ډېرې دغه سیمې چې شاوخوا یې وچې او ارتې دښتې دي، د اوبو، مدیریت، زېرمه کول او د بندونو جوړول د کرنې، اقتصادي ودې او سیلانیانو لپاره مناسب شرایط چمتو کوي. که دولت وغواړي، پرېمانه اوبه د سیمې په کچه د مناسب چاپېریال رامنځته کولی شي، بېلابېلې سیمې د ډېرو کلونو لپاره له وچکالۍ ژغورلی شي. د اوبو دا زېرمې د شاوخوا ولایتونو تر ځمکه لاندې اوبو د زیاتوالي لامل کېږي او تر یوې کچې د دغو سیمو د اوسېدونکو د اوبو اړتیا پوره کوي. که د هېواد د بېلابېلو سیندونو اوبه سمې مدیریت شي، کانالونه او بندونه ورباندې جوړ شي، په اوبو یې دښتې او صحراوې زرغونېږي او د سیمې بڼه ورسره بدلېږي. همداراز دا زېرمې د څړځایونو د زیاتوالي او د سیلابونو د راتلو مخنیوی کوي.

## د اوبو په مدیریت او زراعت کې د قوش تیپې کانال اهمیت

د قوش‌تیپې کانال د امکان سنجۍ مطالعات په ۲۰۱۸ کال کې پیل شول. دغه پروژره د سیمې په کچه د اوبو لگونېستره پروژه گڼل کېږي. د قوش‌تیپې کانال د افغانستان او سیمې په کچه له خورا سترې آبي حوزې (آمو سیند) څخه سرچینه اخلي او پر مسیر یې د اوبو فرعي کانالونه، تولیدي فارمونه، فابریکې او د اوبولو سیستمونه په پام کې نیول شوي دي. دغه کانال په ثانیه کې د ٦٦٨,٤ مترمکعبه اوبو د انتقال وړتیا لري او د ۵۸۰ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو زمینه مساعدوي.

د آمو سیند د پامیر غرونو له لړۍ څخه سرچینه اخلي او شاوخوا ۱۱۲٦ کیلومتره له تاجیکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان په شمالي پولو کې جریان لري او په هېواد دننه له بدخشان، تخار، کندوز، بلخ، جوزجان، فاریاب، بادغیس او هرات ولایتونو څخه تېرېږي، چې د منځني اسیا له خورا سترو اوبو لرونکو سیندونو څخه گڼل کېږي. ځینې برخې یې د کښتیو د تگ‌راتگ لپاره مناسبې دي او د شیرخان او حیرتان بندرونو له لارې د افغانستان ډېر صادراتي او وارداتي توکي له منځنۍ اسیا سره ورباندې

تبادله کېږي. دغه سیند د افغانستان له څلورو شمالي ګاونډیو هېوادونو سره ګډه طبیعي پوله ګڼل کېږي.

نو د آمو سیند د اوبو له سترې حوزې څخه دغه کانال به هېواد له اقتصادي نظره د ځان‌بسیاینې پر لور روان کړي په ځانګړې توګه د کرنې په برخه کې. دغه حوزه د کرنیزو ځمکو او مناسبو جغرافیوي او اقلیمي شرایطو په درلودو سره حتی د سیمې په کچه ډېر کرنیز توکي او غلې دانې چمتو کولی شي. د ځینو کارپوهانو په وینا د دغه کانال په جوړېدو به افغانستان نه یوازې خپله د غنمو اړتیا پوره کړي، بلکې د سیمې هېوادونو ته به هم صادرات ولري.

کرنه په افغانستان کې د دغه هېواد د جغرافیوي جوړښت او اقلیمي نظره ځانګړې اقتصادي اهمیت لري، د ځینو شمېرنو پر اساس زموږ په هېواد کې کابو ٦٩٪ وګړي پر کرنه بوخت دي. د کرنې اهمیت د دغه هېواد په ملي اقتصاد کې جوت دی او د خلکو یوه مهمه عایداتي او تمویلي سرچینه ده.

## پایله

کانونه او اوبه زموږ د هېواد د طبیعي پانګې ستره برخه جوړوي، خوموږ تر اوسه پام وړ ګټه نه ده ترې اخیستې. د قوش‌تیپې کانال په برکت به د هېواد شمال په اوږدمهال کې د هېواد او سیمې لپاره د کندو حیثت ولري او د هېواد په ځانګړې توګه د دې سیمې پر ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او اقلیمي حالت به مثبت اغېز ولري. د قوش‌تیپې کانال په جوړېدو سره به په زرګونو بزګران پر کار بوخت شي، په میلونونو جریبه شاړې ځمکې به خړوبې او د کرنې وړتیا پیدا کړي، خلکو ته به کاروبار پیدا شي، په دغو شاړو دښتو کې به د ژوند لپاره زمینه مساعده شي، فابریکې، شرکتونه او نور مهم عام المنفعه پروژې به دلته پلې شي. سېلابونه به کنټرول کړي، د کرنې په سکتور کې به د لویې پانګونې لامل شي. دغه کانال د سیمې په اقلیم او د ژوندیو موجوداتو په تنوع کې د مثبتو تغیراتو، د خاورې د تخریب د مخنیوي، خلکو ته د کار د پیدا کېدو، د کرنیزو محصولاتو د تولید د لوړېدو او د سیمې د اوسېدونکو د غذایي امنیت د ټینګښت په برخه کې یو ارزښتمن ګام دی.

د هېواد اقتصادي وده د اسلامي امارت په تېره بیا د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت یو خورا مهم لومړیتوب دی. د دې پروژې د پرانیستې مراسمو ته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې د خوشالۍ ورځ ده چې د ځوربدلي ولس د یوه لوی ارمان پوره کولو لپاره راټول شوي یو، ولس په دې اندېښنه کې و، چې د دې پروژې کارونه ودرېدل، خو موږ تر ټولو کارونو وړاندې دغې پروژې ته لومړیتوب ورکړ او نن په رسمي ډول پرانیستل کېږي، ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې د دغه کانال په بشپړېدو سره افغانستان د کرنیزو تولیداتو په برخه کې ځان بسیاینې ته رسېدلای شي، همدا وجه وه چې حکومت د قوش‌تیپې کانال پروژې پلې کولو او شروع کېدو ته دومره جدي شو، چې تر نورو ټولو کارونو یې لومړیتوب ورکړ.


### ماخذونه

١ - کوهزاد، حسین، ١٣٩٤، چالش‌ها وظرفیت های همکاری اقتصادی ایران و افغانستان، سایت اقتصاد آسیا

٢-کمال خان

٣- بند کمال خان و اهمیت اقتصادی و اجتماعی آن، کاندید اکادمیسن محمد اعظم سیسانی ٢٠٢١

٥،۴- د ملي پراختیا شرکت

٦- د اوبو د مدیریت معنا څه ده؟، انجنیر امین الله احساس






# د پیروزي ښارګوټي صنعتي پارک؛ د هېواد په بیارغونه کې یو بل ګام پورته شو

خالد حکیمي

## سریزه

په پیروزي ښارګوټي کې د دغه صنعتي پارک د پرانیستلو او جوړولو په اړه پخوا هم یو څه بحثونه او خبرې شوې وې، خو عملا کار پرې نه و پیل شوی او نه یې هم په اړه پرېکنده تصمیم نیول شوی و. اسلامي امارت په افغانستان کې د حکومت له بیا نیولو سره سم، له سیاسي ثبات وروسته ورو ورو د صنعت، اقتصاد او بیارغونې په لوري ګامونه واخیستل. له بېلابېلو بهرنیو او داخلي خصوصي شرکتونو او بنسټونو سره یې ناستې او غونډې پیل کړې. پر یو شمېر هغو پروژو یې بېرته کار پیل کړ، چې د جمهوریت تر سقوط وروسته یې کارونه درېدلي وو او یو شمېر نورې پروژې یې بیا له سره پیل کړې. له دغو پروژو څخه یوه هم په پیروزي ښارګوټي کې د صنعتي پارک د جوړولو پروژه وه، چې له دې وړاندې کار نه و وربانډې شوی. دا پروژه د بیجینګ-ننګرهار ساختماني او تولیداتي شرکت لخوا مخته وړل کېږي، چې مسؤلینو یې څو میاشتې وړاندې د اسلامي امارت له چارواکو سره د دغه صنعتي پارک د جوړولو په اړه خبرې وکړې. د دغه شرکت مشرانو د دولت له مسؤلو چارواکو سره د دغه صنعتي پارک په اړه خپله طرحه او هراړخیز معلومات شریک کړل. د دوی په خبره چې دا پارک تر جوړېدو وروسته د هېواد لپاره په اقتصادي برخه کې ګټور تمامېږي او په اوسنیو حالاتو کې تر یوې کچې د هېوا په بیارغونه او اقتصادي ثبات کې مرسته کولی شي. د اسلامي امارت چارواکو تر یو لړ خبرو اترو وروسته په پیروزي ښارګوټي کې د دغه صنعتي پارک د جوړولو هوډ وکړ. په همدې توګه د ۲۰۲۲م کال د اپریل په ۲۸مه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ښار جوړولو وزارت او د بیجینګ-ننګرهار ساختماني او تولیداتي شرکت تر منځ تړون لاسلیک شو، چې د هغه له مخې دغه شرکت مکلف دی، ترڅو د دغه صنعتي پارک کارونه پر ټاکلي وخت بشپړ او ګټې اخیستنې ته چمتو کړي.[1]

## د هېواد په اقتصاد کې د صنعتي پارکونو اهمیت

صنعت په یوه ټولنه کې د اقتصادي پراختیا لپاره د ملا تیر بلل کېږي. هر هغه هېواد چې د اقتصاد په برخه کې په خپلو پښو د درېدو څخه کوي، مجبور دی چې د صنعت په برخه کې لازمه پانګونه وکړي. زموږ په هېواد کې د صنعت په تړاو په لومړي ځل د امیر دوست محمد خان په وخت کې کار پیل شو، چې د جګړې لپاره به یې وسلې تولیدولې. له هغه وروسته امیر شیر علي خان په دې برخه کې جدي پاملرنه وکړه، چې د نسبتاً مډرن صنعت بنسټ یې ږده کړه. امیر شیر علي خان یوازې پر وسلو جوړونې بسنه ونه کړه، بلکې د نساجي، پوستکو، بوټ ګنډلو او چاپي صنایعو برخې ته یې هم مخه کړه. په افغانستان کې ماشیني صنایعو په منظم ډول د ۱۹مې پېړۍ په دویمه نیمایي کې فعالیت پیل کړ. دا چې اوسمهال صنعت او سوداګري د پخوا په پرتله پراخ او پېچلي شوي دي؛ نو د پرمختګ لپاره یې ډېرو سرچینو او د زیات شمېر فابریکو، کارخونو او صنعتي پارکونو جوړولو ته اړتیا ده. په یوه هېواد کې پر مختلفو صنایع دې ته اړتیا لري، چې په منظم او سیستماتیک ډول زمینه ورته برابره شي. ټولې هغه اسانتیاوې باید ورته چمتو شي، چې د صنایعو په پراختیا کې اساسي رول لري. د چین، جاپان، جرمني او داسې نورو پرمختللو هېوادونو د پرمختګ اصلي راز په دې کې دی، چې د اقتصادي پراختیا او ودې لپاره یې مناسبه زمینه برابره کړې ده. دا هغه هېوادونه دي، چې اوسنی نړیوال بازار د همدوی د جنسونو پر تولید ولاړ دی. افغانستان له اشغال څخه تازه ازاد شوی او د صنعت په برخه کې د نورو هېوادونو په پرتله زیات کار او ډېرو هڅو ته اړتیا لري. دولت باید د صنعت د پرمختګ په برخه کې په پوره توګه ونډه واخلي او هر اړخیز ملاتړ یې وکړي. له قانوني او اقتصادي اړخه یې باید ټولې ستونزې هوارې کړي. د صنعت په پرمختګ کې تر ټولو مهم ګام دا دی، چې د همغه هېواد په داخل کې پر زیربناوو او صنعتي پارکونو تمرکز وشي. صنعتي پارکونه د اقتصاد په برخه کې هغه ستنې دي، چې د هېواد په کچه صنعت ور باندې ولاړ وي. صنعتي پارکونه د اقتصاد د علم له مخې هغو مناسبو ځایونو ته ویل کېږي، چې د فزیکي فعالیتونو لپاره لومړنۍ اسانتیاوې ولري؛ د بېلګې په توګه اوبه، برېښنا، سړک، ښېرازه چاپېریال او داسې نور امکانات یې خوندي وي. د صنعتي پارکونو د جوړولو اصلي موخه د پانګونې لپاره د پانګوالو هڅول، په بېلابېلو برخو کې کورنی تولید او خلکو ته د کار کولو زمینه برابرول دي.

## په افغانستان کې شته صنعتي پارکونه

افغانستان د صنعت، کرنې او سوداګرۍ په برخه کې ډېر کار ته اړتیا لري. هغه بیارغونې چې په دې برخه کې پخوا شوې، د هېواد او هېوادوالو اقتصادي ستونزې یو مخ نشي حلولی. لازمه ده چې په دې برخه کې کوټلي ګامونه واخیستل شي. د هېواد په بلابېلو برخو کې باید فابریکې، بندونه، د انرژۍ د تولید کارخونې او صنعتي پارکونه جوړ شي او هېواد د اقتصادي ثبات په لور روان کړل شي. په افغانستان کې صنعتي پارکونه جوړ شوي دي، چې ځینې یې فعال، ځینې یې غیر فعال او یو شمېر نور یې یوازې پلان شوي دي، چې په لاندې ډول دي:

۱ـ فعال صنعتي پارکونه

۲ـ غیر فعال صنعتي پارکونه

۳ـ پلان شوي صنعتي پارکونه

دلته د ټولو پارکونو له پېژندلو څخه تېرېږو او یوازې د فعالو صنعتي پارکونو په اړه لنډې خبرې کوو. زموږ هېواد اوسمهال ۱۱ فعال صنعتي پارکونه لري، چې په اقتصادي پرمختګ او بیارغونه کې ترې ګټه اخیستل کېږي. د دغو پارکونو په اړه مسلسل معلومات په لاندې ډول دي:

### ۱ـ د کابل پلچرخي صنعتي پارک

دغه پارک په ۱۳۴۸هـ.ش کال په کابل ولایت کې په ۱۳۵۰ جریبه ځمکه کې تاسیس شو. دا په هېواد کې لومړنی پارک دی، چې ۱۱۱۵ نمرې ځمکه لري او له دې ډلې ۶۱۴ نمرې یې د ۳۶۰ شرکتونو لپاره وېشل شوې. په دغه پارک کې ۲۷۱ فابریکې فعالې او ۶۷ یې غیر فعالې دي او پر ۲۲ نورو یې کار روان دی. د پلاستیک، وچې مېوې، غذایي موادو، مشروباتو، معدني اوبو، صابون، فلزاتو او داسې نورو په برخه کې فعال سکتورونه لري.

### ۲ـ په کابل کې د جمعه محمدي صنعتي پارک لومړی فاز

دغه پارک په ۱۳۸۴هـ.ش کال په ۴۵ جریبه ځمکه کې د کابل ولایت په بګرامي ولسوالۍ کې تاسیس شو. ټوله ځمکه یې ۳۴ نمرې ده، چې پر ۳۳ شرکتونو یې وېشلې ده. په دغه پارک کې ۱۳ میلیونه ډالر پانګونه شوې، چې ۱۶۷۰ کسانو ته یکې د کار زمینه برابره شوې ده.

### ۳ـ په کابل کې د جمعه محمدي صنعتي پارک دویم فاز

دغه پارک په ۱۳۹۳هـ.ش کال په ۵۵ جریبه ځمکه کې جوړ شو. په دغه پارک کې ۱۹ نمرې ځمکه ده، چې ټوله وېشل شوې ده. یوازې تر ۵ ډېرې فابریکې پکې فعالې دي. د دغه دویم فاز لپاره ۳۰ میلیونه ډالر ځانګړې شوي، چې ۱۲۶۰ کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.

### ۴ـ د پروان ولایت د باریک‌آب صنعتي پارک

دغه پارک په ۱۳۹۸هـ.ش کال د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ په باریک آب کلي کې جوړ شوی، چې ۲۰۰۰ جریبه ځمکه یې نیولې ده.

### ۵ـ د هرات ولایت د ۱ـ۲ـ۳ فاز صنعتي پارک

د هرات ولایت لومړی، دویم او درېیم فاز صنعتي پارک په ۱۳۸۳هـ.ش کال په ۳۸۵۰ جریبه ځمکه کې جوړ شوی دی. دغه صنعتي پارک ۸۳۱ نمرې ځمکه لري، چې پر ۵۱۵ فابریکو وېشل شوې دي. په دغو فابریکو کې ۱۶۶ یې فعالې، ۴۵ یې غیر فعالې او نورې یې تر کار لاندې دي.

### ۶ـ د هرات ولایت د څلورم فاز صنعتي پارک

دغه پارک په ۱۳۹۴هـ.ش کال د هرات ولایت په ګزره ولسوالۍ کې په ۸۹۲ جریبه ځمکه کې جوړ شوی دی. په دغه پارک کې ټولې ۱۴۱ نمرې پلان شوې، چې ۴۳ یې وېشل شوې او پاتې ۹۸ نمرې یې لاتراوسه پاتې دي.

### ۷ـ د بلخ ولایت د شادیان صنعتي پارک

د شادیان صنعتي پارک په ۱۳۵۷هـ.ش کال په بلخ ولایت کې په ۱۲۵۰ جریبه ځمکه کې جوړ شوی دی. په دغه پارک کې ۱۷۳ نمرې طرحه شوې، چې ۱۱۳ یې وېشل شوې او نورې نمرې یې پاتې دي. په دغه پارک کې ۸۱ کمپنۍ په بېلابېلو برخو کې فعالې دي، چې ۳۲ یې لا تراوسه غیر فعالې دي. پر دغه پارک باندې شاوخوا ۱۸ میلیونه پانګونه شوې، چې ۱۱۶۸ کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.

### ۸ـ په ننګرهار کې د شیخ مصري صنعتي پارک

دغه پارک په ۱۳۸۴هـ.ش کال د ننګرهار ولایت په سرخرود ولسوالۍ کې جوړ شوی دی. ټول مساحت یې ۱۵۰۰ کیلو متره مربع دی. دا پارک د ۶۳۵ نمرو پر اساس جوړ شوی، چې ۴۵۲ شرکتونو ته وېشل شوې دي. په دغه پارک کې ۵۱ فابریکې فعالې دي، چې په بېلابېلو برخو لکه؛ پلاستیک، غذایي موادو، معدني اوبو، وچې مېوې، صابون او فلزاتو کې تولیدات لري.

### ۹ـ د کندهار ولایت د شوراندام صنعتي پارک

دا پارک د کندهار ولایت په مرکز کې هوایي ډګر ته څېرمه موقعیت لري او په هېواد کې له لویو صنعتي پارکونو څخه ګڼل کېږي. مساحت یې ۳۸۵۰ جریبه دی، چې ۱۲۰۰ نمرې پکې جوړې شوې دي. په دغه پارک کې ۱۶۶ فابریکې په بېلابېلو برخو کې فعالې دي او د هېواد لپاره تولیدات وړاندې کوي.

### ۱۰ـ د کندهار ولایت د شوراندام صنعتي پارک دویم فاز

دغه پارک د کندهار ولایت په مرکز کې هوایي ډګر ته نږدې په ۷۵ جریبه ځمکه کې جوړ شوی دی. په دغه پارک کې ۴۷ نمرې جوړې شوې، چې ۴۰ یې وېشل شوې او ۷ یې پاتې دي. پر دې سربېره ۱۶ فابریکې پکې جوړې شوې، چې ۱۴یې فعالې او دوې نورې یې غیر فعالې دي.

## ۱۱ـ په بلخ کې د امیر علي شیر نوایي صنعتي پارک

دغه پارک په ۱۳۸۵هـ.ش کال د حیرتان دوه لارې ته نږدې د مزار شریف ښار په ختیځه برخه کې جوړ شوی دی. ټول مساحت یې ۹۲۵ جریبه دی. دوه فازه لري، چې لومړی یې ۱۲۵ جریبه او دویم یې ۸۰۰ جریبه دی. دغه پارک ۳۵۷ نمرې ځمکه لري، چې د بېلابېلو تولیداتو فابریکې پکې جوړې شوې دي، لکه؛ د منسوجاتو، پلاستیکي لوښو، غذايي موادو، معدني اوبو، وچې مېوې، صابون، مالګې او داسې نورو.[۲]

### په پیروزي ښارګوټي کې صنعتي پارک

دغه صنعتي پارک د پیروزي ښارګوټي په ختیځه برخه کې پروت دی. پیروزي ښارګوټی د کابل-بګرام د نوي سړک په اوږدو کې په ده سبز ولسوالۍ کې موقعیت لري. دا به یو معیاري پارک وي او د صنعتي پارکونو اړوند ټول اصول پکې په پام کې نیول شوي دي. په دغه پارک کې د تولیداتو پرمهال د هوا او چاپېریال د پاکوالي په اړه پوره پاملرنه شوې ده. پر دې سربېره د ټولو اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو اړخونو رعایت ته پکې پوره پام شوی دی. «دا یو لوی پارک دی، چې شاوخوا ۱۵۰ کوچنۍ او متوسطې کارخونې او فابریکې پکې جوړېږي. زموږ هېواد تر بل هر وخت صنعتي کارخونو او فابریکو ته ډېره اړتیا لري. په دغو فابریکو او کارخونو کې د ټولنې د اړتیا اړوند بېلابېل شیان تولیدېږي، لکه برېښنايي لینونه او برېښنايي تجهیزات، بیسکټ، رنګ، کېک، بېلابېلې نوشابې او جوس، چپس، تصفیه شوې اوبه، مایع غوړي، پلاستیکي تجهیزات، څپلکې او داسې نور. دغه پارک د پیرزوي ښارګوټي ۶۵۰ جریبه ځمکه نیولې ده. »[۳] د دغه صنعتي پارک کارونه لاتراوسه په لومړي پړاو کې دي. دا صنعتي پارک په اوسنیو نازکو اقتصادي حالاتو کې یوه لاسته راوړنه ده، چې د هېواد په اقتصاد کې مثبت رول لري. د پانګوالو شتمنۍ را جلبوي، د بې‌کارۍ کچه را ټیټوي او له بهر څخه په وارداتو کې کموالی راولي.

## د دغه صنعتي پارک ګټې

دا یو حقیقت دی چې د اقتصاد په برخه کې هر لوی او کوچنی مثبت ګام د هېوادوالو هیلې را ژوندۍ کوي. هره اقتصادي پروژه تر خپلې کچې د هېواد په ثبات او بیارغونه کې ارزښت لري. له همدې امله دغه صنعتي پارک هم د هېواد لپاره په بېلابېلو برخو کې ګټور ثابتېږي. «د دغه پارک په داخل کې به ۱۳۶۰۰ کسان په دایمي ډول پر دندو وګومارل شي او ۳۰ زرو نورو کسانو ته به په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.»[۱] هېواد ته به د وارداتو په اندازه کې کموالی راولي او پر ځای به یې خپل داخلي تولیدات پراخ کړي. پر دې سربېره به د دولت خزانې ته یوه مناسبه اندازه عایدات راټول کړي. د برېښنايي تجهیزاتو، بیسکوټو، چپلکو، مایع غوړو او داسې نورو شیانو په برخه کې به تولیدات لري، چې د کابل تر څنګ نورو ولایتونو ته به یې هم لېږدوي. همدا راز په داخل کې به د قېمتونو پر ټیټوالي مستقیم او غیر مستقیم اغېز پرېباسي او په دې توګه به پېرودونکي نه اړ کېږي، چې له بېرون څخه په لوړه بیه وارد شوي توکي وپېري. د دغه صنعتي پارک بل مثبت ټکی دا دی، چې د واردو شوو توکو په پرتله به باکیفیته جنسونه تولیدوي. له دې سره به نور صنعتي پارکونه او فابریکې هم وهڅول شي، چې د خپلو توکو د کیفیت په لوړوالي کې هڅې وکړي. د دې ترڅنګ په ټولنه کې به مسلکي زده کړو ته

> «د دغه پارک په داخل کې به ۱۳۶۰۰ کسان په دایمي ډول پر دندو وګومارل شي او ۳۰ زرو نورو کسانو ته به په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.»

لار هواره کړي، ترڅو يو شمېر هېوادوال د مسلکي پوهې په ګانه ځان سمبال کړي. همدارنګه له هغو شارو ځمکو څخه به په ښه توګه ګټه واخلي، چې د زراعت او اوسېدو لپاره تراوسه نه دي کارول شوي. لنډه دا چې د دغه پارک په جوړولو سره به د هېواد په اقتصادي اړخ کې يو بل ګام پورته شي، چې هېواد او هېوادوال به په بېلابېلو برخو ګټور تمام شي.

**پایله:**

د سياسي ثبات تر څنګ په اقتصادي برخه کې د هېواد په پښو درېدل د دولت له اصلي مسؤليتونو څخه ګڼل کېږي. دا چې افغانستان له څه باندې ٤٠ کالونو راهيسې جګړې، ناامنۍ او اقتصادي ناخوالې تجربه کړې، نو په اقتصادي برخه کې يې پر ځان بسيانه جدي پاملرنې ته اړتيا لري. اسلامي امارت ته پکار ده، چې د کاذب او پر بهرنيو مرستو د متکي اقتصاد پر ځای پر خپلو اقتصادي او صنعتي زيربناوو تمرکز وکړي. که څه هم دغه کار ډېر وخت او پوره حوصله غواړي، مګر ګټه يې دا ده چې هېواد به مو په صنعتي او اقتصادي برخه کې د دايمي ثبات او ځواک په لوري روان کړي. په دغو زيربناوو کې د کارخونو او فابريکو تر څنګ صنعتي پارکونه هم شامل دي. د اسلامي امارت له راتګ څخه وړاندې د صنعتي پارکونو په برخه کې يو څه کار شوی و، خو دغه کار په هېواد کې اوسنيو اقتصادي ستونزو ته په پام سره بسنه نه کوي. له همدې امله دغه اړخ ته پوره پاملرنه پکار ده. همدارنګه د هېواد په کچه لوی پانګوال او سوداګر بايد وهڅول شي، چې په داخل کې خپله پانګونه وکړي او له دولت سره په ګډه د اوسنيو ناخوالو ته د پای ټکی کېږدي. د دې ترڅنګ دولت ته پکار ده، چې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د صنعتي پارکونو، بېلابېلو کارخونو او فابريکو شمېر زيات کړي او پانګونه پرې وکړي. دغه کار به هېواد او هېوادوالو ته له څو اړخونو ګټه ورسوي؛ له يوې خوا به هېواد ته له بهر څخه د وارداتو کچه را ټيټه کړي او ځای به يې ورو ورو داخلي توليدات ونيسي او له بلې خوا به زيات شمېر وزګارو هېوادوالو ته په بېلابېلو برخو کې د کار کولو فرصت برابر کړي.

**مأخذونه:**


۱ـ د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت سایټ: https://bit.ly/3tJC2O4

۲ـ د هېواد د صنعتي پارکونو د زيربناوو د پراختيا د عمومي وضعيت راپور، صنعت او سوداګرۍ وزارت

۳ـ د پيروزي پروژې د فعاليتونو په اړه لنډ معلومات، بيجينګ-ننګرهار ساختماني او توليداتي شرکت.







# ټاپي پروژه؛ عملي چارو پيل، ګټې او پر وړاندې يې شته خنډونه

احمدشاه راشد

**مقدمه**

ټاپي (TAPI)ګاز پایپ‌لاین پروژه، چې له ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان او هند ته د طبیعي ګاز انتقال دی، د دې لویې پروژې په عملي کېدلو سره به افغانستان د مرکزي او جنوبي آسیا ترمنځ پر اقتصادي دهليز بدل شي او د سيمې په کچه له لويو پروژو شمېرل کيږي. د افغانستان لپاره تر ټولو زیاتې ګټورو پروژو له جملې څخه ده. د ټاپي د ګازو نل‌لیکه به، چې ۱۸۱٤ کیلومتره اوږدوالی او ٥٦ انچه قُطر لري، د ترکمنستان له سوېل ګالکينيش (Galkynysh) څخه پیلېږي او تقریباً د ترکمنستان له خاورې څخه د ۱٥۰ کیلو مترو په تېرېدو سره به د افغانستان هرات ته دننه شي. دغه نل‌لیکه به تقریباً ۷۳۰ کیلو متره د افغانستان په خاوره کې تېره شي او له ترکمنستان څخه به د هرات، فراه، نيمروز، هلمند او کندهار څخه په تېرېدو د پاکستان کوېټې ښار ته ورسېږي او له هغه ځایه به بیا

> **ټاپي (TAPI)ګاز پایپ‌لاین پروژه، له ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان او هند ته د طبیعي ګاز انتقال دی.**

ملتان او د ۸۰۰ کیلو مترو له تېرېدو وروسته په هند کې خپل وروستي منزل فازیلکه (Fazilka) ته ورسېږي. د دغې پروژې پر سر لومړنۍ خبرې په ۹۰ مه لسیزه کې پیل شوې او په ۲۰۰۸ م کال کې هند هم په رسمي ډول د دغې پروژې برخه شو، د همدې پروژې څخه اصلي موخه له ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان او هند هېوادونو ته د ۳۳ ميليارد متر مکعب ګاز انتقال دی. په دغه پروژه کې ښکېلو هېوادونو د ۲۰۱٤ م کال په ورستیو کې د (TPCL) په نامه سهامي شرکت، چې په دې شرکت کې د ترکمنستان ګاز شرکت، د افغانستان د افغان ګاز تصدي، د پاکستان د ګاز سيستم خصوصي شرکت او د هندوستان ګيل خصوصي شرکت یې برخه‌وال دي د دغه شرکت عمده مسؤولیت د دې پروژې جوړول او مدیریت دی. او ټول ټال لګښت یې له ۹ څخه تر ۱۰ مېليارد ډالرو تخمين شوی دی.

# ټاپي پروژه؛ هغه خوب او خیال چې په حقیقت بدل شو!

ټاپي پروژې له خپلې پیلامې سره نه یوازې دا چې د سیمې پر سیاستونو ژوره اغېزه وښندله، بلکې په جیو-پولیټیکو بحثونو کې یې یو نوی بحث هم اضافه کړ، چې ایا امنیت نل‌لیکې راولي او که نل‌لیکې امنیت راولي؟ که څه هم دا ډېره طبیعي ده، چې د امنیت شتون نل‌لیکې راولي او د وروستیو پنځو لسیزو تاریخ هم دا جوته کړې، چې د امنیت په راتګ هر ځای سترې اقتصادي پروژې پلې شوې دي؛ خو بیا هم، د افغانستان په څېر هېواد چې ناامنۍ او جګړې پکې له تېرو څلورو لسیزو راهیسې روانې وې، د دغه هېواد ډېرې علمي حلقې دې ته هیله‌منې کړې، چې نور به نل‌لیکې امنیت تلپاتې کوي.

تر دغه بحث ورهاخوا، دا نل‌لیکه له «خوب» څخه تر ډراماتیکي مرحلې پورې ورسېده او بیا له دغې ډراماتیکي مرحلې څخه په تېرېدو، په سیمه کې د نورو هېوادونو لهخوا د نل‌لیکې په تېرولو او منځنۍ آسیا ته د رسېدلو په لاره کې د نولسمې پېړۍ د «لویې لوبې» یاد تازه کوونکې شوه او ان د دسیسه‌یي نظریو تر تورونو پورې هم ورسېده؛ دا دی اوس دغه «خوب» خپلې وروستۍ ټولې پوړۍ شاته پرېښې او له «خوب»، «دسیسه یي نظریو» او «کاغذ» څخه په راوتلو د عملي کېدو په لور روان ده. خو د دغه خوب د تعبیر ریښتیا کېدل تر دوو لسیزو زیات وخت واخیست، له کله نه چې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد بشپړ واک په لاس کې اخیستی او سرتاسري امن تأمین شوی دی د افغانستان اسلامي مارت رهبري د همسایه، سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د متقابلو ګټو او احترام په اډانه کې اړیکې غوښتې دي او ټولو هېوادونو ته یې دا اطمینان ورکړی، چې د افغانستان خاوره به د هېچا په ضد نه کارېږي. د کورنیو او بهرنیو پانګوالو یې غوښتنه کړې او د پوره همکارۍ ډاډ یې ورکړی، چې راشئ په افغانستان کې پانګونه وکړئ او هغه پروژې، چې د سیمې هېوادونو د پیوستون سبب کیږي لکه د ټاپي ګازو نل‌لیکې د کارونو د پیل په اړه هم د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند TPCL له اجرائیوي مشر سره په لیدنه کې د افغانستان اسلامي امارت له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړی، تر څو د دغې بنسټیزې پروژې کارونه عملاً پیل شي، چې له دې سره د یادې پروژې د عملي چارو پیل ته هیلې زیاتې شوې دي او په راتلونکي پسرلي کې به د ټاپي ګازو نل لیکې عملي کارونه له هرات ولایت څخه پیل شي.



# د پایپ لاین **مسیر**




د ګازو دغه پایپ لاین د افغانستان له هرات او کندهار ولایتونو، د پاکستان له کویټې او ملتان ښارونو څخه تیریږي او د پاکستان — هند تر پولې د فاضلکه تر کلي پورې غزیږي. د دغه پایپ لاین ظرفیت په یوکال کې **۳۳ ملیارد متر مکعبه** طبیعي ګاز دی. نو له دې کبله ددغې نللیکې ۲۱٤ کیلو متره د ترکمنستان په خاوره، **۷۳۰ کیلو متره** د افغانستان او **۸۲۷ کیلو متره** د پاکستان په خاوره کې تیریږي. د تاپي پروژې طرحه د یو شمېر هیوادونو له هغې جملې د روسیې د تائید وړ ګرځېدلې ده.

# راتلونکی پسرلی د تاپي پروژې عملي چارو پیلېدل

د تاپي پروژې عملي چارې به راتلونکی پسرلی له هرات ولایته پیل شي. د TPCL شرکت اجرائیوي رئیس «محمد مراد امانوف» د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند سره لیدنه کې وویل، ترکمنستان چمتو دی چې د دغه پروژې پیل په «۶۰۰» میلیونو ډالرو پانګونې سره له هراته شروع کړي. نوموړي زیاته کړه، نړیوال اسلامي بانک، د اسیا پرمختیایي بانک او همدارنګه روسي، چینایي او ځینې عربي بانکونه هم په تاپي پروژه کې پانګونې ته چمتو دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تاپي پروژې د پیل لپاره په افغانستان کې اوسنی رامنځته شوی وضعیت یو ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، اسلامي امارت د تاپي پروژې په اړه ۹ رسمي شوي تړونونه له خپلې ارزونې وروسته د تطبیق وړ بولي او د دغې پروژې د پیل لپاره پوره چمتووالی لري او په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته تیار دي.



# د ټاپي پروژې
## سیمه‌ییزې اغېزې

د ټاپي ګازو نل‌لیکه نه یوازې افغانستان بلکې د سیمې ټول هېوادونه له اقتصادي ګټو برخمن کوي. ترکمنستان اوسمهال ۳۵ میلیارده متره مکعب ګاز پر چین پلوري خو چین دغه ګاز له ترکمنستان نه په ټیټه بیه اخلي، له همدې امله ترکمنستان غواړي پر چین تکیه کمه کړي،چې وکولی شي خپل ګاز په مناسبه بیه وپلوري. هغه سیمې چې دا نل‌لیکه به ورڅخه تېرېږي هلته به کاروبار غوړیږي؛ دوکانونه، هوټلونه او بازارونه به جوړ شي، ډېر ځایي وګړي به د نل لیکی د ساتنی په موخه پر دندو وګومارل شي او ډېر خلک به په بېلابېلو دندو کې مصروف شي. افغان مسلکي کارکوونکي به د عصري مدیریت زده کړو فرصت ترلاسه کړي. پاکستان هم د دې پروژې نه اقتصادي ګټه پورته کوي. دغه هېواد به له هند نه هر کال سلګونه میلیونه ډالره د ټرانزیټي فیس په توګه ترلاسه کوي. د دې ترڅنګ په هغو سیمو کې چې دغه نل لیکه تېرېږي خلکو ته د کار زمینه هم پیدا کوی شي، پر دې سربېره پاکستان به د ګازو نه هم برخمن کېږي. د افغانستان اسلامي امارت رهبري د دې ډول برنامو پر تطبیق او پیل کېدو سره هڅه کوي، څو د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره لاره هواره شي. د دغه ډول لویو اقتصادي پروژو پلي کېدل له یو طرفه د کار زمینې برابروي او له بل لوري د اسعاري عوایدو د راتګ لامل کېږي. چې په دې توګه تر یوه حده د هېواد اسعاري اړتیاوې پوره کېږي او د مبادلې د نرخ له ثبات او په هېواد کې په ښه ډول د پولي سیاست د تطبیق په برخه کې مرسته کوي.

# د افغانستان لپاره
## د ټاپي پروژې اقتصادي ګټې:

١. افغانستان د مرکزي او سویلي آسیا هېوادونو د وصل پر نقطه بدلیږي.

٢. د برېښنا په سکټور کې دهلیز پرانیستلو ته د زمینې برابرېدل.

٣. د سیمه ییزو هېوادونو ترمنځ اړیکې او ټرانسپورټ پراختیا مومي.

٤. په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابریږي.

٥. زیربناوې رامنځته کیږي.

٦. د کال تر ځلورسوه مېلیونو ډالرو څخه زیات امتیاز به ملي عواید ته اضافه کیږي.

٧. افغانستان به د دې پروژې څخه په لومړۍ لسېزه کې پنځه سوه میلیون متره مکعب ګاز، په دویمه لسېزه کې یو میلیارد او په درېیمه لسېزه کې یو نیم میلیارده متره مکعب ګاز تر لاسه کوي.

٨. لکه څرنګه، چې افغانستان یو زراعتي هېواد دی، د دې پروژې د ګازو څخه په استفادې کولای شو، چې کیمیاوي سرې تولید کړو.

٩. له هغو سیمو نه چې دغه نل لیکه تېرېږي بې له شکه سوداګري به ورسره غوړیږي.

١٠. په همدغه لاره به نورې ورته پروژې هم پلي شي دبېلګې په توګه د اورګاډي پټلی، د برېښنا پروژه او د نوري فایبر.

١١. د دغې پروژې تر بریالیتوب وروسته به بهرني پانګوال دلته پانګونې ته هم زړه ښه کړي.

# د افغانستان ټرانزيټي رول

د افغانستان د اشغال په دوران کې ګاونډيو او د سيمې هېوادونو تر ډېره په سياسي او امنيتي مسايلو کې يو له بل سره همکارۍ درلودې او د مناسباتو هسکې ټيټې به تر ډېره د همدې مسايلو پر محور راڅرخېدې، خو چې کله اشغال پای وموند او د افغانستان اسلامي امارت د هېواد بشپړ واک ترلاسه کړ نو اوس د افغانستان او د ګاونډيو هېوادونو په اړيکو کې اقتصادي مسايل د ستراتيژيکو اقداماتو بنسټ جوړوي. افغانستان ورو ورو د سيمې په کچه د انرژۍ او اقتصادي ظرفيتونو د ګټې اخيستنې په ډګر کې پر يوه مهم لوبغاړي بدلېدونکی دی. بېلګې يې په پسرلي کې د ټاپي ګازو نل‌ليکې د عملي چارو پيل کېدل، د چابهار بندر پراختيا، د ټاپ او کاسا زر پروژو پيلېدل او داسې نورې پروژې دي.بل خوا، د لاجورد دهليز چې افغانستان د ترکيې او اروپايي هېوادو له بندرونو سره نښلوي، هم افغانستان ته د دې امکان ورکړی چې يوازې په سوېلي هېوادونو او بندرونو او ټرانزيټي لارو تکيه ونه کړي.

## د ټاپي پروژې د کارونو د ځنډ عوامل او پر وړاندې يې شته ننګونې

د ټاپي پروژې لومړنۍ طرحه د شلمې پېړۍ په وروستيو کې د برېډاس کمپنۍ له‌خوا وړاندې شوه؛ خو عملي چارې يې پيل نه شوې او د تېرو شلو کلونو په جريان کې هم د افغانستان اشغال او په سيمه کې د امنيت نشتون هغه څه ؤو، چې په دې پروژه کې ښکېل هېوادونه ترې په وېره کې وو. دا چې د ټاپي پروژه ولې پر وخت پيل نه شوه، بېلابېل عوامل يې درلودل. د بېلګې په توګه، د تېرې مېلادي پېړۍ په ۹۰مه لسيزه کې د يونيکال او برېډاس کمپنيو رقابت، د افغانستان اشغال، د ترکمنستان حکومت او بېلابېلو کمپنيو ترمنځ اختلافات، د سيمې جيو-پوليټيک بدلونونه، د مالي ملاتړ ننګونه او نشتون، او د خبرو اترو اوږده لړۍ وه. اوسمهال ټاپي پروژې ته ښه فرصتونه مساعد دي. لکه په افغانستان کې تر ٤ لسيزو وروسته د بشپړ امنيت تأمين او د اشغال پای، د افغانستان اسلامي امارت ځانګړې توجه، په هند او پاکستان کې د انرژۍ لوړه تقاضا او د ترکمنستان ځانګړې پاملرنه. خو اوسمهال هم يو شمېر ننګونې او خنډونه شته، چې ټاپي پروژه له خنډ او ځنډ سره مخ کولای شي. لکه د مالي ملاتړ او پانګونې ننګونه، د پروژې پر وخت ختمولو ننګونه، د سيمې اوسنی جيو-پوليټيک وضعيت او تخنيکي ننګونې.



# په ټاپي پروژه کې

# د افغانستان ونډه

افغانستان به د دې پروژې له لارې هر کال کابو ۵۰۰ میلیونه ډالره د ترانزیټ، او کله چې د ټاپي پروژه بشپړه شوه نو تر لسو کلونو ۵۰۰ میلیونه مترمکعبه ګاز او تر شلو کلونو پورې به یو میلیارډ مترمکعب ګاز ترلاسه کوي. او د دې پروژې له لارې به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. د دغې پروژې ۷۳۰ کیلو متره نل‌لیکه به له هرات، نیمروز، هلمند او کندهار ولایتونو څخه تېرېږي. د لومړنیو څېړنو او شمېرو له مخې د ټاپي ګازو پایپ‌لاین به هر کال ۳۳ میلیارده مترمکعب ګاز لېږدوي.

## هغه پروژې چې

## د ټاپي ترڅنګ به پلې شي

ټاکل شوې ده چې د ټاپي پروژې ترڅنګ یو شمېر نور وړې او لویې پروژې هم پلې شي. د دې پروژې بله برخه هم د ۵۰۰ کیلوواټه برېښنا لېږد دی، چې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدول کېږي. چې هر کال به د دې برښنا ترانزیټ له پلوه افغانستان ۱۱۰ میلیونه ډالره ترلاسه کوي او همداراز په هرات، فراه او کندهار کې به هم درې سب‌سټیشنونه جوړ شي. د دې ترڅنګ په سیمه کې به د نوري فایبر مزی هم ولېږدول شي او دا به ګاونډي هېوادونه سره ونښلوي. د ټاپي پروژې ترڅنګ بله پروژه له ترکمنستان څخه پاکستان ته د افغانستان له لارې د اورګاډي پټلۍ لیږد دی. تر څنګ یې ویل کېږي چې دافغانستان تورغنډۍ د اورګاډي پټلۍ چې ۱۳ کیلومتره واټن لري د ۱۰ میلیون ډالرو په ارزښت به د ترکمنستان له لارې ورغول شي.





## پایله

د ټاپي پروژې تر دوو لسيزو زيات وخت کيږي، چې د پيل او عملي کېدو خبرې يې کيږي. خو د يو لړ سياسي، اقتصادي، امنيتي او ټولنيزو موضوعاتو له امله يې د پلي کولو امکان نه و. د افغانستان د اشغال ختم او د سيمې د هېوادونو ګډ تفاهم او هڅو دې ته زمينه مساعده کړې، چې د ټاپي پروژې کارونه عملاً پيل شي. په پلې کېدو سره يې له يوې خوا افغانستان د عايداتو سرچينه ترلاسه کوي او له بلې خوا د سيمې پر سياسي او امنيتي حالاتو د اغېز او تر پخوا د يوه ځواکمن دريځ په ترلاسه کولو توانېږي. د افغانستان اسلامي امارت پر دې ټينګار کوي، چې د سيمې په کچه بايد ټول هېوادونه اقتصاد محوره او پر متقابلو ګټو ولاړ سياست غوره کړي. د افغانستان اسلامي امارت ته بنسټيزې پروژې اولويت لري او اهميت ورکوي او پر وړاندې يې شته اقتصادي بنديزونو ته د سترو ننګونو په نظر ګوري. برعکس د دغه ډول پروژو عملي کول د سيمې په کچه د سياسي سيالۍ پر ځای د اقتصادي همکاريو د پيلېدو ستر لامل بولي. د افغانستان اسلامي امارت په دې نظر دی، چې په سيمه کې د سترو اقتصادي پروژو عملي کول به د افغانستان ګاونډي هېوادونه دې ته وهڅوي، چې خپلې ګټې شريکې وګڼي او د پراخو اقتصادي همکاريو لپاره شته ګنګل مات کړي. د افغانستان اقتصادي او ترانزيټي اهميت د ګاونډيو او سيمې هېوادونو په ګټه دی. سيمه ييزې اقتصادي پروژې او سيمه ييز اتصال په سيمه کې د ثبات او پرمختګ وسيله ده. په نړۍ کې دا ثابته شوې، چې د اقتصادي ګټو شريکول په سيمه کې سياسي ثبات سره مرسته کړې او د افغانستان اسلامي امارت پوره هڅه کوي، چې له ګاونډيو او د سيمې د هېوادونو سره د ګډو اقتصادي همکاريو لپاره زمينه سازي وشي او د داسې لويو پروژو تطبيق به دې چارې ته عملاً لار پرانيزي.

## مآخذونه


1- P Hopkins, Pipelines: Past, Present, and Future, Paper Presented in the 5th Asian Pacific IIW International, Congress Sydney, Australia in 2007; M O Lawal, Historical Development of the Pipeline as a mode of Transportation.

2- P Hopkins, Pipelines: Past, Present, and Future, Paper Presented in the 5th Asian Pacific IIW International Congress Sydney, Australia in 2007

3- ADP, Regional: Turkmenistan-Afghanistan-Pakistan-India Natural Gas Pipeline Project, Phase 3, see it online < http://www.adb.org/projects/44463-013/main>

4- Asian Development Bank (ADB), Regional: Turkmenistan-Afghanistan-Pakistan-India Natural Gas Pipeline Project, Phase 3, last update 19 Sep 2016, see it online:< https://www.adb.org/projects/44463-013/main> (Accessed at 16 October 2016)

5- [31]Lydia Powell, TAPI: Pipeline for regional peace and energy security, Observer Research Foundation, published in employment news, 8 Jan 2016, see it online:< https://bit.ly/3OLJi4C

6- World Bank, Country: India, see it online:< http://data.worldbank.org/country/india>

7- World Energy Outlook, India Energy Outlook 2015, see it online:< http://www.worldenergyoutlook.org/media/weowebsite/2015/IndiaEnergyOutlook_WEO2015.pdf>

8- The News, LNG can bridge gas demand-supply gap: ETPL, The News, 25 Sep 2015, see it online:< https://www.thenews.com.pk/print/64500-lng-can-bridge-gas-demand-supply-gap-etpl>

9- Asian Development Bank, Sector Overview, Engro Fast-Track Liquefied Natural Gas Regasification Project (RRP PAK 48307), see it online:< https://www.adb.org/sites/default/files/linked-documents/48307-001-ssa.pdf>

10- Casey Michel, Chatter Surrounds Turkmenistan's Gas Export Plans, The Diplomat, 3 June 2016, see it online:< http://thediplomat.com/2016/06/chatter-surrounds-turkmenistans-gas-export-plans/>

11- Natalia Konarzewska, Turkmenistan advances westward natural gas export, 25 March 2016, see it onlie:< https://bit.ly/3OOmvp1

12- Luca Anceschi, Turkmenistan's Export Crisis: Is TAPI the answer, Central Asia Policy Brief, No. 27 (June 2015), see it online:< http://centralasiaprogram.org/wp-content/uploads/2015/06/Policy-Brief-27-June-2015.pdf>

13- Drazen Jorgic, INTERVIEW: TAPI gas pipeline consortium plans investor roadshows in November, Reuters, 14 Oct 2016, see it online:< http://in.reuters.com/article/pakistan-energy-tapi-idINKBN12E1A3>

14- Kay Johnson, TAPI gas pipeline through Afghanistan 'doable'-ADB official, Reuters, 8 April 2016, see it online:< http://in.reuters.com/article/pakistan-gas-pipeline-idINKCN0X51MN>

15- Reuters, Turkmenistan borrows $700 million for TAPI pipeline-state news agency, 14 Oct 2016, see it online:< http://in.reuters.com/article/turkmenistan-pipeline-idINKBN12E254>

16- Huseyn Hasanov, Turkmenistan allocates first tranche for TAPI construction, Trend News Agency, 4 June 2016, see it online:< http://en.trend.az/business/energy/2542060.html>

17- DAWN, Turkmengas to lead TAPI pipeline consortium, 7 Aug 2015, see it online:< https://www.dawn.com/news/1198829>

18- Weekly Analysis, TAPI pipeline building process: any hope for success?, Eurasian Research Institute, 30 Dec 2014-5 Jan 2015, No 1.

19- https://tolonews.com/pa/afghanistanد-ټاپي-پروژه؛-له-کومه-تر-کومه

20- https://dab.gov.af/index.php/ps د-ټاپي-پروژه؛-اقتصادي-ګټې-او-فرصتونه

21- www.afghanchamber.com/about/Mining.html

22- https://jpt.spe.org/twa/indias-midstream-petroleum-network-grows

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال

# د اهل تشيع له علماوو او مشرانو سره وليدل

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱٤٤۳ ه.ق کال د شوال المکرم مياشتې په ۲٦مه نېټه د جمعې په ورځ تر غرمې وروسته د اهل تشيع له علماوو، مشرانو او قومي مخورو سره وليدل.

په دغه ناسته کې چې په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د سولې او آزادۍ د ټولنې مشر استاد عطاءالله صادق شاغاسي او د اهل تشيع د علماوو او متنفذينو د ټولنې رئيس سيد حسن فاضلزاده د نورو په استازيتوب خبرې وکړې. ښاغلي فاضلزاده د سولې، امن او خود اراديت په اړه خبرې وکړې او زياته يې کړه، چې موږ تل د اسلامي امارت ملاتړ کړی او کوو يې. مونږ ټولې هغه کړنې او هڅې حرامې بولو، چې د موجوده اسلامي نظام د کمزوري کولو لپاره يې ځينې کړۍ کوي.

د نوموړي په خبره، په افغانستان کې له کلونو جګړو او د بهرنيو کړيو په لاس تر جوړو شوو نمايشي غلام حکومتونو وروسته د الله تعالی په فضل او کرم سره اوس يو خپلواک اسلامي نظام حاکم شوی دی. موږ د دغه نظام شکر پر ځای کوو او افتخار کوو چې نن ورځ افغانان د خپل حق ترلاسه کولو لپاره له خپل دريځه خبره کوي.

فاضلزاده زياته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې د مېشتو قومونو تر منځ د اتحاد او يووالي مرکزي هسته ده او په خبره يې، علماوو په شيعه مېشتو سيمو کې د هر راز شورش او ناامنيو مخه ډپ کړې ده .

همدارنګه ډاکټر صادق شاغاسي وويل: بُن کنفرانس د هېواد د اشغال، قومي او سمتي تعصبونو د زيږېدلو وثيقه او بالعکس د دوحې تړون بيا د هېواد د آزادۍ او قومونو تر منځ د يووالي او ورورولۍ وثيقه بللای شو. پخواني قومي ټيکهداران او هغه استخباراتي کړۍ نورې دلته ارزښت او حيثيت نه لري، چې د ولسونو په وېشلو کي يې خپلې ګټې ساتلې.

د شاغاسي په خبره، د تېر نظام بنسټ په فساد اېښودل شوی و، هلته يوازې فردي ګټې په نظر کې نيول شوې وې او د ولس غږ تر هېچا نه رسېده؛ خو له نېکهمرغه د اسلامي امارت په راتګ سره د فساد مخه نيول شوې ده، ملي ګټو ته لومړيتوب ورکړل شوی او د ولس پر مخ د حکومت دروازې هر وخت خلاصې دي. موږ د دغه نظام شکر پر ځای کوو او مشرانو ته له الله تعالی د اوږد عمر او د ښه خدمت توفيق غواړو.

د اهل تشيع مشرانو ځينې طرحې او وړانديزونه هم درلودل چې په ليکلې بڼه يې د رياستالوزراء له اقتصادي مرستيال سره شريک کړل .

ملا عبدالغني برادر اخوند دغو مشرانو ته د ښه راغلاست پر مهال وويل، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او آبادول يې هم د ټولو افغانانو ګډ مسووليت دی. د اسلامي امارت دريځ واضح دی او هېڅکله د قدرت انحصار نه غواړي. د اسلامي امارت دروازه د افغانستان د هر وګړي پر مخ خلاصه ده، هر څوک چې افغانستان او افغانانو ته خدمت کوي، موږ يې هرکلی کوو.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال څرګنده کړه، د هېوادوالو هوساينه او اقتصادي ثبات د حکومت له مهمو پروګرامونو او لومړيتوبونو څخه دي څو وکولای شو، چې په لنډمهال کې اقتصادي وضعيت ښه کړو، خلکو ته د کار زمينه برابره او ورسره به ملي عوايد زيات شي.

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د افغانستان په اوسني حکومت کې ټول قومونه ځای لري، دلته د تعصب ريښې ختمې شوې دي او د الله تعالی په فضل عدالت قايم شوی دی. موږ هېچا ته اجازه نه ورکوو چې د افغانانو تر منځ بې اتفاقۍ ته لمن ووهي او د خپلو موخو لپاره يې قرباني کړي. موږ خپلواک، آزاد او له نېکهمرغه پياوړي اسلامي نظام لرو او په ګډه به د دغه نظام او هېواد د ساتلو او آبادولو لپاره کار کوو.

> **ډاکټر صادق شاغاسي وويل: بُن کنفرانس د هېواد د اشغال، قومي او سمتي تعصبونو د زيږېدلو وثيقه او بالعکس د دوحې تړون بيا د هېواد د آزادۍ او قومونو تر منځ د يووالي او ورورولۍ وثيقه بللای شو.**

# پیام‌های کوتاه معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء

«افغانستان خانه مشترک همه‌ی افغان‌ها و آبادی آن مسوولیت مشترک همه‌ای افغان‌ها می‌باشد. موقف امارت اسلامی واضح است؛ درهای امارت اسلامی به روی هر فرد افغانستان باز می‌باشد.»

«زندانیان افغان را که جرمهای آن‌ها سنگین نیست آزاد و دوسیه‌های کسانی را که جرم آن‌ها ثابت شده به دولت افغانستان تحویل دهید. همچنان از امارت متحده عربی خواهانیم که مشکل ویزه برای افغان‌ها را حل و پروازها به افغانستان را آغاز نمایند.»



«رفاه مردم و ثبات اقتصادی در کوتاه مدت یکی از اولویت‌های مهم امارت اسلامی افغانستان جهت بهبود وضعیت اقتصادی و افزایش درآمد ملی می‌باشد.»

«از روزی که امارت اسلامی حاکمیت سیاسی را بدست گرفته همواره تلاش می‌نماید تا صنعت را توسعه داده و مشکلات در این حوزه را از میان بردارد. با تامین امنیت از صنعت‌کاران و تاجران می‌خواهیم که با نهایت صداقت محصولات با کیفیت را در اختیار مردم قرار دهند.»

«امارت اسلامی به تمام تاجران افغان مقیم کشورها اطمینان می‌دهد که امنیت جانی و مالی آن‌ها محفوظ بوده و برخی از مشکلات باقی مانده را برطرف خواهیم کرد. از این‌رو از همه تاجران می‌خواهیم که جهت سرمایه گذاری به کشور خود برگردند.»

«افغانستان از اشغال کفار رهایی یافت و اکنون حاکمیت کامل از امارت اسلامی است؛ پس همانطوری که جنگ با کفار فرض بود، حفاظت از این نظام نیز فرض می‌باشد.»

«الله متعال به ما کشوری غنی و دارای منابع معدنی زیاد عطا نموده است. سرمایه‌گذاران افغان باید در کشور خود سرمایه‌گذاری کنند؛ آبرو و عزت هرکس در کشور خودش است نه در کشورهای دیگر.»

# د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال لنډ پيغامونه

«اقتصادي کمېسيون کوښښ کوي چې افغاني محصولاتو ته پر کور دننه سربېره، نړيوال بازار هم پيدا کړي. ټول هېوادوال بايد د بهرنيو محصولاتو پر ځای له کورنيو هغو استفاده وکړي.»

«مونږ له ګاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو سره پياوړې اقتصادي اړيکې جوړوو. هغه بهرني شرکتونه چې په افغانستان کې پانګونې ته لېواله دي، مونږ ورته په بېلابېلو برخو کې اسانتياوې برابروو.»



«اقتصـادي کمېسيون د افغانستان د سوداګريزو بندرونو د عصـري کولو پـه موخـه لـه نړيوالو شرکتونو سره د تفاهم هڅې کوي.»

«مونږ پر ټولو مسؤولينو غږ کوو چې خپل کارونه په وخت او ښه ډول سرته ورسوي، څو دغه ځوربدلي ولس ته د ارام ژوند کولو زمينه برابره شي.»

«د اسلامي امارت په راتګ سره فساد ختم شوی، قومي تعصب له منځه تللی، په ټول هېواد کې امنيت تأمين شوی او د هر چا مال او عزت خوندي دي. افغانان بايد د دغه لوی نعمت شکر پر ځای کړي.»

«په خوست او پکتيکا ولايتونو کې د وروستيو زلزلو له امله د زيانمنو شويو هېوادوالو ۱۰۰۰ نړېدلي کورونه به د ژمي تر رارسېدو مخکې ورته جوړ کړو. د دغو کورونو جوړول زموږ مسؤليت دی. انشاألله.»

«بهرنۍ مرستې زموږ ستونزې نشي حل کولی، موږ هڅه کوو چې په داخل کې لويې اقتصادي پروژې پيل کړو او پر ځان بسياينې ته ورسېږو.»